مورچل

دافغانستان داسلامي امارت قيادي شخصيتونه !!

لسم کال پنځمه، پرلپسې ۹۳یمه ګڼه، شعبان ۱۴۳۷هق، مئ۲۰۱۶م



احکام روزه ماه مبارک رمضان

دجهادي مورچلونود بريالیتوب مظاهر!

دشهید قاید-رحمه الله- څو ځانګړنې !!!

لښکرګاه، دسقوط په درشل کې ده

امیرالمؤمنین شهید کسی بود که کفر جهانی را بزانو درآورد

آه رهبر شهیدم!...

اسلامي فقه ستونزه او که د ستونزې حل؟

امیرالمؤمنین شهید شو...!

د ریګستان غاټول، (شهید مولوي محمود سیف الله)!

سلام واهمیت آن ازدیدگاه اسلام

دامیرالمؤمنین شهادت او د امریکا نامعقول دریځ

مورچل



لسم کال پنځمه،پرلپسې۹۳یمه ګڼه، شعبان ۱۴۳۷هـق، مې ۲۰۱۶م کال

لرليک

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدير

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســـن خپل | ايـــوب صـــافی
حســـن زوی | حکمت بغلانی
زبير مـــسافر | حافـظ سعـــيد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سر مقاله.....	۱
۲	دجهادی مورچلونو دبریالیتوب مظاهر!.....	۳
۳	لښکر ګاه ولی دستوط په درشل کې ده:.....	۴
۴	دشهید قاید(رح) څو څانګړې!!!.....	۶
۵	امیر المؤمنین شهید کسی بوده که کفر جهانی	۹
۶	احکام روزه در ماه مبارک رمضان :.....	۱۰
۷	دامامت دری درانده مسؤلیتونه !.....	۱۲
۸	داسلام غزوات او سریا.....	۱۵
۹	دجهاد فقهی مسائل :.....	۱۸
۱۰	آه رهبر شهیدم !.....	۲۰
۱۱	اسلامی فقه ستونزه او که دستونزې حل؟	۲۲
۱۲	دشهادت غوښتنې اوفدايي عملياتو.....	۲۶
۱۳	امیر المؤمنین شهید شو	۲۸
۱۴	دریګستان غاټول شهیدمولوی محمود.....	۲۹
۱۵	دامیر المؤمنین شهادت او دامریکا.....	۳۵
۱۶	سلام و اهمیت آن از دید ګاه اسلام	۴۲
۱۷	جنګی جنایتونه می میاشت.....	۴۴
۱۸	دمورچل وړمې.....	۴۷
۱۹	د ۲۰۱۶م کال د مې میاشتې خبرونه.....	۵۰
۲۰	دخبرونو میاشتنی جدول	

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دافغانستان

داسلامي امارت قيادي شخصيتونه !!

دافغانستان په تاريخ کې د(۲۰۱۶)زکال دمې (۲۱) يوه داسې دردونکي او له غمونو ډکه ورځ وه، چې په اړه يې هيڅ ډول حدس نشي کيدای او نه مجاهد ولس دا سخته ورځ هيرولای شي ،تر دې مخکې دفقيد امير المؤمنين (ملامحمدعمر مجاهد رح) دوفات غږ او بيا ورپسې دځوان او تاند قافله سالار،ددواړو جهادونو علمبردار ،مدبر،سنجيده او هوښيار زعيم امير المؤمنين (ملا اختر محمد منصور رح) دشهادت ژړونکې شيبې هغه هيښونکې يادونه دي، چې نه يوازې دافغان ولس ،بلکې داسلامي امت دپرګنو زړونه يې وبريښول او شهادت يې دوير په ټغر سره راټول کړل .

ځلور ورځې دحکيمانه چوپتيا وروسته نا ځاپه داسلامي امارت رهبري شوری ،ديوې ابلاغيې په صدرو سره دفقيدزعيم (رح)خونکار ظالم قاتلان وغندل او داسلامي امارت لپاره يې قدرمن شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده صيب(حفظه الله) د نوې زعيم اوامير المؤمنين په توګه ، دفقيد امير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهدرحمه الله زوی (مولوي محمد يعقوب مجاهدصيب)اودجهادي مورچلونوسالار مولوي جلال الدين حقاني (حفظه الله) زوی (خليفه ملا سراج الدين حقاني صيب)دمرستيالانوپه توګه وټاکل او دبيعتونو لړی ورسره دمګړی پيل شوه .

شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده صيب (حفظه الله) چې په علمي ، اداري او جهادي سابقې سربيره دهيواد په کچ يو منل شوی مقام لري او تر دې مشر تابه وړاندې داسلامي امارت مرستيال او دتميز درياست چارې يې هم سنبال کړي ،خورا ښه متدين ،حق پالی ،دکلک عزم او استقامت خاوند،داشغالګر ودپوځي شتون کلک مخالف ،هودمن ،دسياسي او جهادي بصيرت درلودونکی اودخپلو سلفوپرپاليسوددتللومتين هوډ يې دپاليسي په لومړيتوبونوکې ځای لري ؛له ښه بخته داسلامي امارت دزعيم په حيث دنومورې ټاکنه نه يوازې دجهادي ځبرو دوحدت او يووالې سمبول شوه،بلکې له امله يې يوه داسې هيجاني ځپه پر مسلمانانوخپره شوه، چې هرځوک چې دا شخصيت پيژني، دهيواد دښې راتلونکې هيلې يې په غوږيدو شوي او دټولوايجاد شويوفتنو او خارجي پديدو په وړاندې دده زهد ،روحانيت ،حق پرستي او علميت يو اکسير درمل بولي .

درهبري شوری ددې پر ځای او وخت پريکړې داشغالګرو ارادي شنډې اودبدو عزايمو په تندي يې خولي وبهيدي ،نيواکګرو انګيرلې وه، چې (خدای ج مکړه)دمحترم منصور صيب رح، شهادت به داسلامي امارت ليکې ګډې ودې او دافتراق درز به پکې ولويږي ،او هم به ورسره روان (عمري)عمليات ټکنې شي اولکه چې ښکاري، دادشهادت دا پيښه يو سنجول شوی پلان او دداسې ترخو احتمالي حالاتو لپاره پلان ګذاری شوی وه،خو لله الحمد،دشيخ الحديث

مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله زعامت ،داټولې پټې دسيسې په نطفه کې خنثی او داسلامي امارت ديوه روښانه سباوون څرکونه دسياست او جهاد په افق کې وځليدل ،دخلکو دتصوراتو او اټکلونو خلاف يو داسې زعامت مجاهدينو ته په نصيب شو،چې دهرې نيکمرغۍ او سعادت هيلې او تمنيات تر ې شونې شول .

داسلام او خاورې مکار دښمن ،داسلامي امارت داحياء له ورځې څخه تر دانن ورځې پورې، هيڅکله له توطئواو شومو عزايمو نه دريغ ندی کړی ،هغه که دجهادي قيادتونو دشهادتونوشوم عزايم دي ،که ددوئ دژندانونودسيسه وي ،که ددوئ دمهاجرت او جلا وطنۍ پلان وي او که هغه پر دوئ ددول ډول تعزيراتواو محاصرې شرمونکی هوډ وي ،په هره لاره او هره شيبه يې ،ددې کفر ځپونکې (سونامي)توپان او دې سمندرمخې ته دشکوبندی اچولې او خپله ټوله وسه يې ددې دپرمختک په مخنيوي کې کړي ،خو هلته چې دالله تعالی دا وعده رښتونې وه، لکه چې فرمايي { يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ } [الصف : ٨] نو داسلامي امارت په وړاندې يې دپر ژر له پلانونونه نقاب پورته او هرڅه يې نړيوالو ته برينډ شول ،نه اقتصادي ،نه تجارتي او نه هم ديپلوماتيکي تعزيراتوداسلامي امارت دسوبو او پرمختګونومخه دب کړای شوه ،نه پوځي او سياسي فشارونو،نه دمشرانو شهادتونو اونه زندانونودا(سونامي) مهارکړای شو اونه دمذاکراتي ټيمونوګمارل شويوکړيو په خپلوچلوتواو سياسي دامونوداآسمانځکی (سونامي) له خپل جهادي لارنقشې او خط مشي نه راايسارکړای شو،بلکې چې څومره داشغالګرو او غاصبينو فشارونه دپريږي، هماغومره يې په وړاندې جهادي ليکو کې ثبات ،استقامت او رواني مقاومت پياوړی کيږي او ددې روحيه لا غښتلې کيږي، چې دهيواد دمعضلې حل صرف دجهاد په مورچلونوکې نغښتی دی اوبس !

داخبره يو څرګند حقيقت دی، چې دزعامت مسئله په اسلامي شريعت کې يو رغونکی عنصر دی او اسلامي امارت هم دې اصل ته ډيره ترجيح ورکوي ،خو نړيوال اشغالګر بايد دزړه په غوږونو واوري ،چې دنورو نړيوالوتحريکونو معکوساً، دلته داسلامي امارت هر مجاهد،هر طالب او هر مخلص غړی دجهاد لاره ، داسلامي شريعت دنفاذهيله او هم داسلامي امارت دصف وحدت او غښتلتيا خپله يوه ديني او عقيدوي وجيبه بولي او دې کې دچا دفرمايشونو او غوښتنو پروا نه کوي ،نوطبعي خبره ده ،چې دداسې يوه جهادي صف دقيادتونوشهادت ،که ديوې خوا يوه ستره غميزه ده، خو دبلې خوا دکفارو پر خلاف دجهادي روحيې او ددې نه لا زياتې قربانۍ او دوينو نذرانو ته دچمتوالې نه پرته بل مفهوم نلري او نه دقيادتونو په له مينځه وړلو به د مجاهدو طالبانوعزايم سست اوکمزوري شي ،څومره چې ښکاري ،دې کارسره دکفارو نيواکګرو په وړاندې دکرکې فيصدي نوره هم لوړيږي او ډيرنور خلک استشهادته چمتوکيږي .

اشغالګر بايد پدې پوه شي ! چې دجهادي قيادتونوشهيدانول، به ددوئ پر خلاف دنورې کرکې څخه بله معنی ونلري او نه به څوک دخپل مرګ له ويرې دجهادي مورچلونو څخه شاته شي ،مسلمان شهادت افتخار او دجنت ددخول يوه نړدي لاره ګڼي او پدې لاره کې دهيچا دويرې او زور پروانکوي .

ډيره نړدي به وي، چې دجهادي قيادتونودشهادت دوينو سرخي دهيواد خونکار اشغالګر کلابند اوددې سپيڅلو وينو رنګونه ولسونه دتل لپاره ددې قسی القلب دښمنانوله پنجو څخه وژغوري!!!

انشاءالله تعالی

د جهادي مورچلونو د بریالیتوب مظاهر!

شاهد (غزنیوال)

د افغانستان د اسلامي امارت له لوري د اشغالګرو په وړاندې د (عمري) عملیاتو پلان او پیل د هیواد په ګوټ ګوټ کې ښې لاسته راوړنې له ځان سره لرلې او دښمن یې په پوځي او سیاسي صحنه کې تر اغیزې لاندې راوستی.

په شمالي ولایتونو کې د جهادي مقاومت زور اخیستلو دښمن له سختې وارخطایي سره مخ کړی، او د مجاهدینو په مقابل کې خپلو مورال بایللو ځواکونو ته د مورال ورکولو په خاطر په یو لړ ناکامو حرکتونو لاس پوري کړی.

سرپل ولایت ته د جنرال دوستم ورلیږل او هلته د سیمې د مظلومو خلکو په خلاف وحشیانه اجراآت ترسره کول، د دښمن د لاناکامۍ او رسوایي سبب شوی او جنرال دوستم د یوه ځواکمن ملیشه یي جنرال او د ریاست جمهوري د مرستیال په توګه په دې نه دی توانیدلی، چې د ګډ حکومت پر خلاف ولسي مقاومت خاموش کړي.

ماتې خوړلې دښمن په بغلان ولایت کې هم د ولسي خلکو پر خلاف خپلو وحشتونو ته دوام ورکړی او دهغو کلي او کورونه یې د ړندو بمباریو او توپونو هدف ګرځولي، چې دې کار نه یوازې دا چې د مقاومت په ځپلو کې مؤثریت نه دی لرلی؛ بلکې نور یې هم د سیمې په خلکو کې له دښمن څخه د انتقام او غچ اخیستنې روحیه پیاوړې کړې.

په نوموړې ولایت کې د مجاهدینو لخوا د سلګونو دولتي ځواکونو محاصره او په (چشمه شیر) سیمه کې د جرمن غونډۍ بیس په څیر د مهمو سوق الجیشي سیمو لاندې کول د ناکام دښمن پر خلاف د ولسي انتقامي غبرګون یوه ښکاره بیلګه ده.

همداراز د کندز او تخار په لاره کې، د مجاهدینو لخوا د ولسي خلکو د سورلیو له منځه د لسکونو امنیتي ځواکونو معلومول او راښکته کول، بل هغه څه دي چې په سیمه کې د مجاهدینو د تسلط او د یقظت ښکارندوینه کوي.

د هیواد په نورو برخو سربیره د هلمند په ولایت کې د مجاهدینو وروستي فتوحات او پرمختګونه د دښمن د ناکامۍ او رسوایي ښکاره بیلګې دي.

د هیواد په بیلا بیلو برخو کې د مجاهدینو پوځي تحرکات او بریالیتوبونه په مجموع کې د اشغلګرو په مقابل کې د افغان مجاهد ملت جهادي د تفوق ښکاره عوامل دي، چې خامخا د هیواد په روان پوځي او سیاسي وضعیت خپلې اغیزې لري.

یرغلګر امریکایان او د هغوي وراخطا مزدوران کوښښ کوي، څو د دروغجنو تبلیغاتو په کارولو سره د مجاهدینو د دغو جهادي فعالیتونو اغیزې او اثرات کم رنګه وښیي.

هغوئ د همدې تبلیغاتو په ترڅ کې د سولې د ناکامو او تیر ایستونکو مذاکراتو په مکرر اعلانولو سره، د ولس د مقاومتي روحیې د ځپلو او خاموشه کولو هڅې هم کوي، خو مجاهدین د الله تعالی په نصرت باندې په باور لرلو سره، په دې متیقین دي، چې د الله تعالی په لاره کې د دوئ سربښندنې او قربانۍ به حتما نتیجه ورکوي، د دوې قربانۍ به په ټول هیواد کې د یرغلګرو امریکایانو او د هغوئ د مزدورانو د شکست لامل ګرځي او د افغانستان مقدس حریم به د دوئ له ناپاکه اشغاله آزادیږي. ان شاء الله وما ذالک علی الله بعزیز.

لښکرګاه ، ولې دسقوط په درشل کې ده ؟

(ع-ع)

هلمند ولایت ته منسوبووکیلانو هم ومنله ، چې دنوموړي ولایت ۹۰ فیصده ځمکه دمجاهدینو په لاس کې قرارلري او که مجاهدین دلښکرګاه ښار دنیولو لپاره ځانګړي عملیات پیل کړي ،زیات امکان شته چې پرته له کوم جدي مقاومت څخه یې په نیولو وتوانیږي

دلیل یې دابولي چې د تیرو ۲۴ ساتونوپه اوږدو کې دملي اردو عسکرو ته یواځې دلښکرګاه په دوازو کې له ۲۰۰ سوو تنو زیات ځاني تلفات اوړیدلي ، داچې څومره به ټپیان شوي وي دهغو شمیرندی په ډاګه شوي

دوکیلانو په اند دپاتي عسکرو روحیه کاملا متزلزله ده ، که تازه دم قطعات ورونه رسیږي طالبان به په جنوب کې ترټو دمهم اوحساس ولایت په مرکز (لښکرګاه) باندي هم خپله ولکه ټینګه کړي .

څه موده وړاندې دکابل ددفاع وزارت ویندوی اعلان وکړ چې هلمند ولایت ته دنورو قطعاتو دلیږلو ضرورت نه لیدل کیږي ،ځکه دهغه په خبره په نوموړي ولایت کې داردو ۳۸ زره عسکر شتون لري ، دلسو زرو په شاوخوا کې هلته سیمه یزي ملیشي فعالیت کوي ، دامریکاا و برتانیا لږ اوډیر پوځیان او جنګي ماشین خو پرځای پریږده ، خو په هغو سربیره دهلمندوکیلان او ازادي سرچیني په صراحت وایی چې دهلمند په ۹۰ فیصده ځمکه دطالبانو بشپړه ولکه اوسلطه ده او خبره اوس دلښکرګاه سقوط ته نیږدي شوي .

اوس پوښتنه داده چې یا دکابل دفاع وزارت دروغ وایی چې نیږدي پنځوس زره داردو عسکر او ملیشي په هلمند کې شتون لري او دطالبانو سره په جګړه لګیا دي او یا هم همدومره شمیره رښتیا ده خو پنځوس زریز مجهز پوځ نور دجګړې اومقاومت توان او حوصله له لاسه ورکړي ؟

داخبره به ترډیره ځایه واقعیت ولري چې په همدومره شمیره کې به دکابل شړیدلي اداره په هلمند کې پوځیان او وسلوال ولري ، ځکه دتیر کال په اوږدو کې دفاع وزارت اعلان وکړ چې په ټول هیواد کې یې د شپږزرو په شاوخوا کې عسکر وژل شوي چې دری زره تنه یواځې دهلمند په جګړو له منځه تللي ، نو چې دټول افغانستان

په سطحه سم په نیمه وژل شوي پوځیان دهلمند حسابیږي ، نوشک نشته چې دفاع وزارت به پنځوس زره تنه په هلمند کې عسکر او جنګیالي ولري ، خو په هغو سربیره چې دبې وسواو تش لاسو طالبانو په وړاندې دغه پوځ له سقوط اوزوال سره مخ دي ، غواړم مهم لاملونه په لاندې کرښو کې خلاصه کړم.

ترټولو عمده دلیل یې داده چې دهلمند قاطع ولس او په سلو ۹۵ فیصده پرګنې له دیني او جهادي ارزښتونو سره کلک ربط او وفاداري لري ، دهمدغه ټراو اوروحیې له مخې امریکایانو او برتانویانو دتیرو ۱۴ کلونو په اوږدو کې خپل هږدول وحشت او بربریت وکاراوه ، ترڅو دهلمند میرنې ولس دخپل راسخ عزم او ټینګې دیني پیروي څخه خپلې پلیدې مفکورې منلو ته اړ باسي خو بریالي نشول

امریکایانو او برتانویانو دهلمند په بیلابیلو ولسوالیو کې په لکونو خلک او په زرهاوه کورنۍ یوې اوبلې سیمې ته په مهاجرت اوکډوالی مجبوري کړي ، داسې کورنۍ به نه وي پاتې چې اشغالګرو دهغوی دکورنۍ یو یادوه تنه غړي شهیدان او اسیران کړي نه وي ، خو په هغو سربیره هم اشغالګرو په هلمند کې په ارام شپه تیره نکړه ، په هرځای کې یې دامریکایانو او برتانویانو له ویجاړو شوو ټانګو اوجنګي وسایطو څخه انبارونه جوړ کړل اودمجاهدینو دکره معلوماتو په اساس دتیرو ۱۴ کلونو په اوږدو کې ۲۵ زره تنه خارجي عسکر په هلمند کې مړه او ټپیان شوي دي .له بل اړخه دافغانستان اسلامي امارت چې دهلمند کومه سیمه او ولسوالی نیولې هلته ورسره مثالي امن او اطمنان راغلی ،شرعي محاکم جوړشوي ، دیني او عصري مدرسې فعالي شوي ، دغلو او ډاکوانو مخه نیول شوي او دزورواکو او جنګ سالارانو راج ته دپای ټکی ایښودل شوی ، چې دا دهلمند ولایت دمتدینو پرګنو لپاره ترټولو اهم ترجیحات او غوښتنې یې دي

باالمقابل ، دکابل اداري او امریکایانو چې دهلمند دولسونو په خلاف په خپلو جنایتونو او ظلمونو کې ستومانه شوي ، نو بیا یې په نوبت دسیمه یزو ملیشو ترنامه لاندې پخواني جنګسالاران اویاهم دکمونیزم سولیدلي څیري دقومندانانو په شکل کې ورلیږلي ،ترڅو یې وکړي ، ارام ژوند ی نارامه کړي او شتمنی یې لوټ کړي .

نو ویلای شو چې دهلمند ولسونه دکابل دوحشي رژیم او ناترسو بادارانو خواخوږي ، خدمت اود بیارغوني شعارونو لیدلي ، که دپنځوسو زرو په ځای پنځه لکه عسکر هم ورولیږی ، دنومورې ولس عزم او اراده به بدله نکړي اونه به یې خپل کړای شي .

نودکابل رژیم ته دنجات لار داده چې دم ګړی یې کوم پوځ په هلمند کې حصار او کلابندي دي ، که په هغوی رحم کول غواړي ، نویایې ژر ترژره وباسي او یاهم اجازه ورکړي چې سرخم او داسلامي امارت سپاهیانو ته تسلیم شي ، کنه سرنوشت به یې هغه وي لکه وړمه ورځ چې تاسو دلښکرګاه دړومبیو کمربندونو په مورچو او حصارونو کې دخپلو ۲۰۰ سوو عسکرو حشر او انجام ولید .

دشهید قاید(رح)څو ځانګړنې !!!

(بت شکن)

که داسلامي تاریخ پاڼې راواړوو، نوترنورو زیات به پکې داسلامي امت دخلفاوویا دهغو اسلامي شاهانو دشهادتونوبابونه ومومو،چې خپل امارت یا خلافت یې دتعیش او هوس لپاره نه ،بلکې دیوه الهي امانت په توګه منلی او دهمدې لامل پر بناء یې دخپل خلافت یا امارت په پیر کې جهادي او دعوتي تګلاره خپله کړې وه.

که هغه دامیر المؤمنین عمر رضی الله تعالی عنه په صورت کې ګورو ،که یې دامیرالمؤمنین عثمان رضی الله عنه په شکل کې وینو ،که یې دامیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه په بڼه ګورو،که یې دعبدالله بن زبیر رضی الله عنه په بڼه وینو او یا که دامویانود دور خلافت دعادل او متبع السنة عمر ثاني(امیرالمؤمنین عمر بن عبدالعزیزرحمه الله) په صورت کې یې وینو ،چې څوک دیهودي غلام ابولؤلؤ،څوک دباغیانو ،څوک دخوارجو ،څوک دسفاک حجاج بن یوسف لخوا شهیدان او دعمرثاني غوندې شخصیتونه دخپل یوه غلام په توسط په زهرو شهیدا کړای شول ، ددوئ نه راوروسته نور مسلمان خلفاء او امراء، چې چا پکې دسپیڅلي شریعت دنفاذ بشپړ هوډ کړی او دکفاروپر خلاف یې جهادي تګلاره خپله کړي زیات یې دیهودو ،نصاراوو او مشرکینو لخوا په مختلفو پلمو په شهادت رسول شوی او خپل منزل مقصود ته ندې پریښودل شوي ،چې دادی نړۍ دفلسطین دحماس یا الانتفاظه دجهادي حرکت مشران د(شیخ احمدیاسین)څخه راواخله تر وروستي لارښود پورې ټول یې داسرائیلو لخوا یو په بل پسې شهیدانیږي او دا لړۍ لا تنده روانه ده.

دافغانستان اسلامي امارت چې علماء او طالبان یې قیادت کوي، دادی دخپلو اسلافو په پل پل ږدي ، دهغو دسنتو احیاء کوي او دهغوئ ددې اغزنې لارې په پیچومو ورروان دي، کله یې یو مشر او کله یې بل مشر دشهادت داعي ته لبیک وایي اوبیا هم دوئ په خورا لوړه حوصله دجهاد او ازادۍ داهدافودترلاسه کولو په لاره کې دستومانۍ احساس نه کوي او په کلک هوډ او غښتلي عزم داشغالګرو مخکې دپولادي دیوال غوندې ولاړ دي خو هغه دروند ،مدبر ،مجرب ،قهرمان ،سنجیده او دلورو آسمانځکو هیلو او ارادو خاوند ،چې دې وروستیو کې یې شهادت نه تنها دافغانستان دمسلمان ولس بلکې دګرد امت زړونه غمجن او دسترګو نه یې داوښکوویالې وبهولې، هغه داسلامي امارت فقید امیرالمؤمنین ملااختر محمد

منصور رحمه الله دی ،چې په خپل ناڅاپي فراق يې نه يوازې يوه ستره تشه رامينځته کړه، بلکې دمسلمانانو زړونه يې ځان پسې دومره ودردول ، چې تر ډيرې مودې پورې به يې دشهکاری يادونه او داتلوالی ژوندي خاطرات دخلکوسترګو کې انځوريږي او يادښتونه به يې دزمان اومکان دحوادثوښکارنشي.

زمونږشهيد قايد ملا اخترمحمد منصور رح دامريکايانو دبې پيلوټه الوتکې دظالمانه بريدهدف په(۲۰۱۶زکال)دمئی په(۲۱)نيټه هغه وخت دکندهار په سرحدي پوله وګرځيد ، چې نوموړې دخپل سلف او داسلامي امارت دمؤسس اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد رح غوندې دامريکايانودسيسې او حيلې درک کړي وي ،نه يې ورسره دميز په سر خبرو ته چمتوالی وښود او نه يې داشغالګرو په وړاندې کوم ډول نرموالی ښکاره کړ،ځنګه چې مشر ملا صيب په خپله اراده کې کلک وو ، همداسې شهيد قايدفقيد منصور رح هم پخپل هوډ کې کلک ولا ړوو ،نه يې سازشونه وکړل ،نه يې دچوکۍ دحفظ لپاره له چاسره دهوکړه ليکونو مسودې تيارې کړې او نه له اشغالګرو سره دسولې جعلي ميزته کښيناست،لکه چې همداخبره (وال ستريټ ژورنال) امريکايي ورځپاڼې داسې ليکلې: امريکا په دې انده وه، چې منصور صيب به د خپل پخواني مشر په پرتله يو څه نرم وي او کبدای شي د سولې خبرې پيل کړي، مګر عملا د امريکا اټکل ناسم وخوت او نوموړی د خپل پخواني مشر ملا محمد عمر مجاهد په پرتله ډېر «پلانې او د امريکا په دښمنۍ کې فعال و» له همدې امله بارک اوباما په خپله امر وکړ، چې بايد ملا اختر محمد منصور شهيد شي....

دشهيد اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور رح ځانګړنې خو ډيرې دي او شايد هغه چاته يې ډير خصوصيات معلوم وي، ورسره څنګ کې اوږدمهال پاتې شوی وي ،خو هغه چې يا موده سره له نږدې پاتې شويو ملګرو نه اوريدلې او يامو رسنيو کې کتلې، هغه دمنصور صيب قهرماني ،شجاعت ،په مسايلو کې عميق تدبر ،پلان ګذاري،فهم او درايت ،علم ،سياسي بصيرت ،نظامي وړتيا ،عاطفه او ترحم،ديانت ،جامعيت،دحنفي مذهب تقليد ،داشغالګروسره نه پلاکيدونکې دښمني ،داسلامي شريعت دنفاذ سره ليونی مينه اوپه مجموع کې ديوه اسلامي خليفه په صفاتو متصفه څيره وه، خو هغه کارنامې چې دده دامارت او مشری په دورکې دتاريخ قضاوت ته پاتې شوي او داسلامي امارت شمله پرې جګه شوي، هغه دهيواد دشمال په زړه کې دکندز ولايت بشپړه فتحه ، ډيری غنايم ولجه کول ،دهيواد شمال ولايتونو کې دسويل او ختيځ غوندې جهادي سوقيات ،پرمختګونه او ډيرې ولسوالی فتحه کول ،دولايتونو لويې لارې ددښمن پر مخ باندې ترل ،په سويل او ختيځ کې داختطاف ګروا و شوکمارانوسره کلکه مقابله او ددوئ دله مينځه ورلو کلک هوډ ،ديوه لوړرتبه هيأت په ذريعه د اسلامي امارت دټولوملکي او نظامي کميسونونو او اداري واحدونو کاري چارې ارزونه او سروې کول ،دخپلو سياسي مخالفينو په وړاندې انعطاف ، تنازل او دخپلې مينې او محبت غيږه خلاصه ساتل اوپه مجموع کې خپل ولس او نړيوالو ته داسلامي امارت يو داسې غوره تصوير ښودل چې هم پکې اسلامي اقدارځليدل او هم يې

نواحیو کې افغاني غرور څرکونه وهل ،ددې سربیره داسې نورې ځانګړنې شته چې له امله یې دنوموړې شخصیت ښه پیژندل کیدای شي او سړی پرې منصفانه قضاوت کولای شي.

شک نشته چې شهید ملا اخترمحمد منصور رح ددواړو جهادونو علمبردار دی ،هم دروسانو دیرغل پرخلاف دمورچلونو اتل او هم دامریکایانو خلاف دجهاد او قیادت ویاړ لري او بالاخره پدې لاره کې خپل وروستي ارمان ته هم ورسید.

دهغه اسلامیت او افغانیت دانشوه برداشت کولای ، چې کوم محارب کافر ،یاددې کافر کوم زرخرید غلام ته دعجز سرټیټ کړي، سرکوزې مذاکره ورسره په ټیټو سترګو وکړي اوداسلامي غرور دمقتضیاتو خلاف یې احکامات ومني ،نوهمدا لامل و، چې خپل ولس او مجاهدینو ته ګران او داشغالګرو کفارو دسترګو اغزی شو.

دالله تعالی په لاره کې شهادت چې دمسلمان ستر افتخار وي او ویاړنه یې بولې، نو ځکه خو داسلامي امارت مجاهدین که دیوې خوا دا دځان لپاره ستره ضایعه بولې خو دبل لورې یې ددیني عقیدې له امله ویاړ بولي او دنوروشهادتونو لپاره هم چمتوالی ښیي دمتعهداو ژمن قاید ترشهادت وروسته ، دخلکو داټکلونو او تصوراتو خلاف په ډیرکم وخت کې داسلامي امارت دنوې زعیم په حیث د(شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله)ټاکنه، یوبي ساری اقدام اوله امله یې داسلام ددښمنانو ډیرې دسیسې پرخنثی شوي ، دنوموړې زعامت یو داسې انتظار وو ،چې پرخپل مناسب وخت اوزمان ترسره شو او هغه څه چې مجاهدینو غوښتل عملي شول ،داسلام او خاورې دښمنان چې یو ځل بیا دطالبانو مینځ کې (خدای مکړه)داختلافاتو دلوخړو پورته ته په انتظار وو ، د(شیخ هبة الله اخندزاده صیب)په ټاکنه ډیر نهیلې او شومې ارادې یې له خاورو سره خاورې شوي، داسې معلومیږي چې دجهاد ي کاروان دشهید قافله سالاراو قاید سپیڅلې وینې به رنګ راوړې اوجهادي صف کې به دمزید وحدت ،قوت او پرمختګونو کرشمې وځلیږې او هیواد کې به دلا ډیرو فتوحاتو څبې جګي شي !

شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله)چې داسلامي امارت دتمیز رئیس او دامارت مرستیال پاتي شوی ،په نظامي ،اداري او سیاسي چارو کې پخه تجربه لري او داسلام په سیاست تر هرچا ډیر پوهیږي ،ددې هیله ترې ناشونې نده ،چې اسلامي امارت به په ټولو ډګرونو کې دلاپرمختګ پرلورې بوځي او ولس او قام به دهغه څه شاهدان واوسي ،چې ورته یې کلونه کلونه انتظار ایست !

افغان ولس مجاهد ولس دشیخ الحدیث هبة الله اخندزاده صیب دزعامت نه ننګه کوي او پرې ویاړې، چې نوموتی عالم ،فقیه ،قاضي ،مجاهد اودعلمي بصیرت څښتن داسلامي امارت زعامت ته انتخاب شو ، له شک پرته چې یرغلګر امریکایان او ددوئ حلیفان ددې نوې زعامت څخه په کلکه ویره کې دي او هغوئ دخپلو دسایسو په وړاندې ځانونه ناکام او دښې راتلونکې تمه نلري ،خو مجاهدین او افغانان دزړه له کومې نه ددې ټاکنې استقبال کوي او دلوی خدای له درباره ورته په چارو کې دتوفیق غوښتنه کوي !

امیرالمؤمنین شهید کسی بود

که کفر جهانی را بزانو درآورد.

سعید بدخشانی

آری!همان قائد بزرگ،همان رهبر فرزانه،آن زعیم مدبر،آن غمخوار اسلام و مسلمین آن منصور شهید با کمال متانت ودلیری،با ایمان راسخ وعزم فولادن در برابر استکبار واژداهای خون آشام جهانی(آمریکا)همچو کوه وژ مستحکم مقاومت وایستادگی نمود،از غرّش طیّارات بم افگن بی پنجاه دو،از اتحاد وپیمان دنیا کفر واسلام واز دسایس وتبلیغات زهراگین فرزندان دموکراسی نه هراسید،بلکه هروجب وجب کشور را برآنها جهنم ساخته و بنی لشکریان شیّاد،ابناء قرده وخنازیر(یهودیت ونصرانیت)را به خاک مالید،ومانند اسلاف خویش افغانستان را به گورستان وکشتارگاه متجاوزین مبدل ساخت.تکنالوژی،جنگندها،ابزار رزمی،دیابات،وسائط وسامان آلات مدرن ومجهز فراغنه قرن را مضمحل،واقتصاد شان را به رکود مواجه کرد،به دنیای کفر واسلام برملاء نمود که طواغیت واشغالگران بین المللی شکست پذیر اند ویه باد هلاکت می روند.

بلی!امیرالمؤمنین شهید آبر مرد خستگی ناپذیروشخصیت سیاسی ویادرایتی بود که قدرتمندان جهان خوار از تدبیر،رهبریت سالم،نظم ونسق صف جهادی،روش برخورد او با دنیا وهمسایگان مبهوت شده بودند.

او شخصیتی ظریف،امارت اسلامی را از انزواء بیرون،وبشکل یک قدرت بزرگ مدافع اسلام ،مسلمانان وکشور به جهانیان معرفی نمود،وبه دنیا بازگو نمود که امارت اسلامی عبارت از واکنش های سرسری،بی مفهوم،غیرماندگار وبی هدف نیست،امارت اسلامی مربوط به یک قوم،سمت،نژاد ویا یک زبان نمی باشد بلکه امارت اسلامی خانه همه اقوام ومسلمانان متدین کشوراست،وآغوش این نظام اسلامی برای هر مسلمان ولو که از هر تباری باشد باز میباشد.

همچنین امیر فقید وزعیم با ابتکار عملاً نشان داد که نظام نیرومند ما(امارت اسلامی) ناقض حقوق بشرنه بلکه بر حقوق حقه همه اهل ادیان در چوکات شرع احترام قائل است،رهبران ومجاهدین امارت تروریست نیستند،تروریست جنایت پیشه،قاتل انسانیت ومسلمانان آمریکا واتحادیون اش میباشد آنها اند که همه روزه حقوق بشررا پایمال ونقض میکنند،کشورها ره اشغال وامنیت دنیا را درهم کوبیده واز بین میبرد.

رهبر محبوب مجاهدین در راه تنفیذ نظام اسلامی در کشور وزدودن کفر والحاد ونظام فرسوده بنام دموکراسی از سرزمین خویش با هیچ طاغوتی معامله نکرد،وبه خواست های نامشروع پروسه های بدنام وجعلی صلح جواب رد داد،واز موقف شرعی خویش یک خطوه هم عقب نیشنی ننمود.

حقا که امیر المؤمنین فقید رحمه الله آن پیمان که با الله بی نیاز بسته بود (قال الله مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم سبحانه وتعالی:مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا (۲۳)

در میان مؤمنان مردانی هستند که برعهدی که با خدا بستند صادقانه ایستاده اند،بعضی پیمان خود را به اخیر بردند(در راه او شربت شهادت را نوشیدند)وبعضی های دیگر در انتظار اند،وهرگز در عهد وپیمان خود تغیر وتبدیلی نکردند.) تا اخیرین رمق حیات خویش در مقابل کفر وبربریت مردانه وار مبارزه نمود بالآخر به مقام شامخ شهادت نائل گردید ویا روی سرخ به لقاء الله شتافت،الله بی نیاز شهادت پر افتخار امیر شهید وفرزند راستین اسلام را به درگاه خود قبول وبرای راه روان وخانواده محترم شان صبر جمیل ونعم البدل عنایت بفرماید.آمین.

من به صراحت تام ابراز میدارم که ای رهبربزرگ ای شهید پاکباز راه تو بدون کدام اعوجاج ادامه دارد،زعیم جدید امارت اسلامی الشیخ الفقیه المولوی هبت الله اخندزاده حفظه الله ودیگر مسؤلین ومجاهدین با کمال خلوص وصداقت مسیر شما را تعقیب وبه دشمنان دین درس های فراموش ناشدنی خواهند داد ومیدهند.در اخیر از همه منسوبین ومجاهدین امارت اسلامی خواهش میکنم که فریب دسایس شرق وغرب را نخورده ،وحدت،صداقت وبرادری خویش را حفظ نمایند.

احکام روزه در ماه مبارک رمضان

مولوی ضیاء احمد فاضلی

فرایض روزه:

پرهیز از خوردن، نوشیدن و عمل جنسي از صبح صادق تا غروب آفتاب به نیت عبادت.

روزه بر چه کسی فرض است؟

روزه بر هر مسلمانِ عاقل و بالغ فرض است؛ البته زن در عادت ماهوار و نفاس روزه گرفته نتوانسته و بعداً آن را قضا مي‌آورد. زن حامله و یا شیرده اگر داکتر صادق و امینی روزه گرفتن را براي وي و یا براي فرزندش مضرّ مي‌دانست، روزه را مي‌خورد و بعداً آن را قضاء مي‌آورد. و نیز مریضی که روزه سبب ازدیاد بیماری و یا طولانی شدنش می‌شد و هم کهنسالی که روزه او را به مشقت شدید می‌انداخت، روزه را افطار می کند و اگر انتظار می‌رفت که در آینده توانا مي‌شود، آنرا به تأخیر مي‌اندازد؛ ورنه از عوض هر روز دو کیلو گندم و یا پول آن را فدیه می‌دهد. براي مسافر رخصت است تا روزه را افطار کرده و بعداً در وطن آن را قضاء آورد، هر چند اگر زمینه براي روزه گرفتن مساعد باشد، گرفتنش در سفر برایش بهتر است.

سنن و مستحبات روزه: بعضي از آنها به قرار زیر است: 1. سحري داشتن و آن را در آخر شب خوردن. ۲. با مطمئن شدن از غروب آفتاب، بدون درنگ افطار کردن. ۳. با خرما و با این دعاء افطار نمودن: «اللهم لکَ صُمنا وعَلي رِزقِکَ اَفطَرنا فَتَقَبَّل مِنّا انّکَ اَنتَ السَّمیعُ العلیم» (خدایا براي تو روزه گرفتیم و با روزي تو افطار نمودیم، پس از ما بپذیر! بی شک که تو شنوا و دانائی)

آنچه روزه را مي‌شکند و آنچه نمي‌شکند

شکننده های روزه عبارت اند از خوردن و نوشیدن به طور قصد و یا به خطا و نیز مقاربت جنسی و یا ارضای شهوت (بیرون آوردن آب منی) چه به وسیلة استمنا باشد یا لمس همسر و یا کدام وسیلة دیگری. در خوردن و نوشیدن به طور عمدی و بدون عذر شرعي و مقاربت با همسر در روز رمضان، هم قضاي آن روز و هم کفاره؛ هر دو لازم مي‌شود.

کفاره: عبارت است از دو ماه پیاپي روزه گرفتن و اگر از آن عاجز بود، صدقه دادن طعامی است که کفایت یک روز شصت مسکین را کرده بتواند، فرقی نمی کند که آن ها را به شصت مسکین بدهد یا به یک مسکین و نیز پخته بدهد یا ناپخته و یا پول آن را. و رواست اگر به عوض طعام هر مسکین، دو کیلو گندم بدهد که مجموعاً ۱۲۰ کیلو می گردد. و یا شصت دست لباس برای مساکین ببخشد و یا قیمت آن را.

و اگر شکنندة روزه به خطاء صورت پذیرد -مثلاً هنگام شستن دهان، ناخواسته آب در گلویش فرو رود- در آن صورت فقط قضاء دارد و کفاره یی در کار نیست.

و اگر شکنندة روزه در حالي انجام شود که روزه از یادش رفته باشد، در آن‌صورت روزه‌اش نمي‌شکند؛ به‌شرط آن که به محض این که به یادش آمد، از آن خود داري ورزد. پیامبر صلی الله علیه وسلم در این باره مي‌فرمایند: «مَنْ أَکَلَ نَاسِیاً وَهُوَ صَائِمٌ فَلْیُتِمَّ صَوْمَهُ فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللّهُ وَسَقَاهُ» (صحیح بخاری) «هر که به فراموشي چیزي بخورد، باید روزه‌اش را تمام کند که بي تردید خداوند به او آب و نان خورانده است.«

*اگر کسي از خواب بیدار شد و آب مني را در لباس خود دید- چه خوابي دیده باشد یا ندیده باشد- روزه از آن نمي شکند و نیز اگر از اثر وسوسة شیطان بدون دخالت خود وي در بیداري از او

مني خارج شد نمي‌شكند. اما اگر به فعل وارادة خودش خارج شود يعني از اثر استمنا و يا لمس همسر و... روزه از آن مي‌شكند و فقط قضاء لازم مي‌شود؛ نه كفاره.

*استفراغ اگر عمدی و به قدر پُري دهان باشد، مي‌شكند و تنها قضا دارد و اگر خود بالا آمد، اگر چه به پُري دهان باشد نمی شكند و اگر عمدي باشد، اما كم تر از پُري دهان، نيز نمي‌شكند

*.از فرو بردن بلغم جداشده از سينه روزه نمي‌شكند.

*اگر خون بيره‌هاي دندان كه با لعاب دهان به حلق فرو برده شود، نمي‌شكند، مگر اين كه بيشتر از آب دهان باشد و يا بعد از حس كردن مزة اش، آن را فرو برد كه در آن صورت مي‌شكند و تنها قضا دارد

.اگر به فراموشي چيزي خورد و يا احتلام شد و يا استفراغ نمود، و بعداً به گمان اين كه روزه‌اش شكسته‌است، چيزي خورد، در چنين صورتي تنها قضا لازم است.

*با سرمه به چشم كشيدن، خود را چرب كردن و خوشبويي استعمال‌نمودن، روزه نمي‌شكند.

*مسواک در روز و شب رمضان سنت است، اگر چه طعم آن حس شود. اما از مسواک‌زدن با خميرة دندان به خاطر سرعت نفوذش در روز اجتناب شود.

*اگر روزه را از ياد برده بود و آب را غرغره كرد و از آن، مقداري به حلقش فرو رفت، نمي‌شكند (فراموشي روزه را نمي‌شكند) و اگر روزه را به ياد داشت، مي‌شكند. (اين همان حالت خطاست كه قبلاً گذشت.(

*با فروبردن غذاي داخل دندان، نمي‌شكند؛ مگر اين كه به اندازة نخود برسد، كه از آن تنها قضا لازم مي گردد.

*با فرو رفتن غبار و دود در حلق، نمي‌شكند مگر اينكه عمدي باشد، مانند استعمال سيگار و چلم كه مي‌شكند.

*وارد شدن آب در بدن از بيخ موها و گوش هنگام غسل، نمي‌شكند.

*همسر را بوسه‌زدن و لمس كردن، اگر مبالغه نشود و بر خود اطمينان داشته باشد، اشكالي ندارد؛ ورنه مكروه است.

*غسل كردن براي روزه‌دار اشكالي ندارد و فقط متوجه‌باشد كه آب در حلقش فرو نرود.

*روزه‌دار در وضو يا غسلش نبايد آب را غرغره كند كه بيم شكستن روزه‌اش مي‌رود.

*زن اگر در اثناي روزی كه روزه دارد به عادت ماهوارش مواجه مي‌شود، ديگر به روزه‌اش ادامه داده نمي تواند و اگر به قصد روزه تا شام چيزي نمي‌خورد، گنهكار شده و اين برايش روزه محسوب نمی گردد.

*قضاي روزه‌هاي ايام عادت ماهوار براي زنان –در ايامي ديگر– فرض –است، اگر چه چندسال هم بگذرد، اما نماز آن ايام قضايي ندارد.

*استفاده از داروهايي كه مانع حيض در رمضان مي‌شود، اگر دكتور معالج آن را مضر نمي‌دانست، اشكالي ندارد. هرچند بهتر است به حال خود رها شده و جلو گيري نشود.

*غسل جنابت اگر تا صبح به تأخير افتد، اشكالي ندارد.

صدقه فطر چيست و بر چه كسی لازم است؟

صدقة فطر عبارت از مقداری خوراكي (از گندم ۲ كيلو و از كشمش، خرما و يا جو 4 كيلو و يا قيمت آن) است كه بر هر مرد و زني كه از نيازمندي‌هاي اصلي خود به ارزش يک نصاب شرعي جنس و يا نقد، اضافي داشته باشد، واجب است تا از خود و طفل خوردسالش براي كسي كه مستحق زكات است، بپردازد. در صبح عيد و يا قبل از آن در رمضان ادا می شود.

گناه روزه خواری

پيامبر صلی الله عليه وسلم مي‌فرمايند: «مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَلَا مَرَضٍ لَمْ يَقْضِهِ صِيَامُ الدَّهْرِ وَإِنْ صَامَهُ» «صحيح بخاری) (كسي كه يک روز روزة رمضان را بدون اين كه عذری داشته و يا بيمار باشد، افطار كند، اگر تمام عمرش را روزه بگيرد، جبران آن روزش نمي‌شود)

د امامت دري درانده مسئوليتونه!

مفتي ابوماريه

دمسجد یاجامع امام به دا لاندې امور په نظر کې نیسي .

لمړی : دامام حیثیت .

کله چې یوعالم دامامة الصغری په منصب قائم شي نواوس به ترهرڅه وړاندې دخپل حیثیت فکر کوي . یعنې هغه خودپیغمبرصلی الله علیه وسلم دیوه وارث اوخلیفه په ډول دې قوم ته ورغی،نو لمړی به دهمدغه علمي صفت ساتنه کوي ،

لکه دابن مسعود رضی الله عنه په روایت کې ذکردي :چې که علماء دعلم ساتنه وکړي ،په دې ډول چې ځان دخلکو په وړاندې بې قدره وي ،په خلکوبه درانه وي ، اوهدف ته به ونه رسیږي .

بیاابن مسعود رض وویل: ماستاسوله نبي صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي، چې ویل یې:څوک [کوم عالم] چې ددنیا چاري ایله کړي ،اوداخرت په فکر کې شي ، نوددنیادچارو به یې لوی خدای جل جلاله خپله کفایت وکړي ،یعنې دنیا به یې هم ورسمه کړي اوڅوک [کوم عالم]چې ځان ددنیا په چارو کې لګیاه کړي اوخپل ژوند ددنیادلاس ته اعتماد کوي،خبرو ته به یې غوږ نیسي اوبیابه عمل وربانديکوي ، اوله دي سره به دین دخلکو په زړونو کې ځای ونیسي اوهغوئ به داسلام دین ته رجوع وکړي.

اوکه داسې ونه کړي بلکې علم ددنیا دلاس ته راوړلو لپاره داهل الدنیا قرباني کړي ،نودخلکو په وړاندې به بې قدره وي ،په خلکوبه درانه وي ، اوهدف ته به ونه رسیږي .

بیاابن مسعود رض وویل: ماستاسوله نبي صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي، چې ویل یې:څوک [کوم عالم] چې ددنیا چاري ایله کړي ،اوداخرت په فکر کې شي ، نوددنیادچارو به یې لوی خدای جل جلاله خپله کفایت وکړي ،یعنې دنیا به یې هم ورسمه کړي اوڅوک [کوم عالم]چې ځان ددنیا په چارو کې لګیاه کړي اوخپل ژوند ددنیادلاس ته

راوړلو په بيلابيلو لاروکې مصروف کړي ، نودلوی خدای په وړاندي به هيڅ حيثيت ونه لري ،اونه به درحمت په نظرورته وګوري ؛ بلکې چې وغواړي نوددنيادلتون په يوه دره کې به يې هلاک کړي . مرقات۳۳۱\۱ کتاب العلم : رقم الحديث ۲۲۳

ملاحظه: تاسو وګورئ !مورږ څرنګه په ښکاره ډول ددې حديث مصداق وينو ،اودابيخي دمشاهدي په ډول راته څرګنده ده ،خلک څه ډول په وازه خوله ناري وهی ،چې ملا يعني دخلکو داوږو بار ، کله بيا وايي: چې يومالګه اوبل ملا ترهرڅه ارزانه ده..

دوهم : خلکوته دجماعت لمونځ اودصحيح عباداتو دعوت ...

مورږ بايد لمړی خلک په دې پوه کړو چې لمونځ ددين له لمړيو اساساتو څخه دی ، يعني کله چې يوتن " لااله الاالله ... " ووايي: نو بيايې لمړی عمل لمونځ دی ،اودقيامت په ورځ به په اعمالو کې لمړی دهمدغه لمونځ په اړه پوښتنه کېږي ،لکن دلمانځه دمقبوليت لپاره طريقه داده: چې په جماعت سره اداء شي ، اوپه جماعت سره دلمانځه اداء کيدل داسې واجب دي، لکه دماخوستن وتر ،يا دلوی اختر اضحيه اونور.....

په دې هکله دي دلمانځه ځينې فضائل اوبيا په جماعت سره داداء کيدو ځينې احاديث ورته ذکر کړي ، اودجماعت ځينې حکمتونه اومسائل دي ورته ذکر کوي .ترڅو دخلکو په ذهنونو کې دلمانځه اوجماعت اهميت ښه ځای ونيسي.له دي وروسته دي دجماعت دترک اعذار ، اوبيا له شرعي اعذارو پرته دتارک الواجب په هکله وعيدونه ورته ذکر کړي .

له دي وروسته دي دصفونو حيثيت ،دلمړي صف فضايل ،په صفونو کې دناستي ترتيب ،اودصفونو سيده کيدل په پوره وضاحت سره ورته بيان کړي ،

همداراز دي دلمانځه ديوه يوه رکن اوشرط په اړه ښه وضاحتي بيان ورته کوي ، همداراز دي په مسنونه طريقه سره دلمانځه اداء کولو ترغيب ورکړي ، اوبيادي دمسجد داحکامو اوحقوقو په اړه وضاحت ورکړي.

دريم : اصلاح الناس .

لکه وړاندي چې يې يادونه وشوه ،چې لوی خدای ج انبياوو ته دخلکو داصلاح اوهدايت لپاره امامة الکبری اوامامة الصغری دواړه ورکړي وه او اوس يې وارثانوته يواځې دادوهمه وظيفه ورپاتې ده ،نوعلماء به له همدي لاري داخپل مسئوليت خلکوته رسوي ، څو خلکوته دالهي دين احکام اوهدايات وروښودل شي.

نوپه دغه مهال به علماء هغه طريقه اختياروي کومه چې انبياؤ کرنلاره وه. درسول الله صلی الله عليه وسلم په هکله رب العزة داسې فرمايې: {هو الذي بعث في الأميين رسولاً منهم يتلو عليهم ءاياته ويزكيهم ويعلمهم الكتاب والحكمة وإن كانوا من قبل لفي ضلال مبين} {الجمعة۲ دغه آيت په قرآن کريم کې څلورځله راغلی دی او دپيغمبرصلی الله عليه وسلم څلورمناصب په کې ذکردي . خلکوته دقرآن کريم دآيتونو تلاوت ،دهغوئ تزکيه ،دقرآن کريم تعليم ،اوددين مسائل بيانول.

نووارث به يې هم لمړی خلکوته دقرآن کريم ترجمه کوي ،اوپه ښه ژبه به يې پوه کوي ،اوپه دغه آيتونو

کې چې داحکامو په اړه کوم آیتونه وي دهغوئ به ښه تشریح کوي ، دقصصو په برخه کې دعبرت ټکي ښه واضح کوي ،که یې په مثالونو سره وضاحت ورکړي نودخلکو په فهم اوذهن کې ښه راځي ،په هرصورت دخلقو دفهم وړ دي په خپلو ځایونو کې مناسبه تشریح کوي.

اوبیا څرنګه چې دعقائدو تصحیح اوتزکیه داسلام لمړني اواساسي امور دي ، اوله بل لوري زمونږ په ټولنو کې داسې عقائد عام شوي چې ځینې یې بې خي داسلام سره په ټکر کې دي ، مثلا : لکه بدفالي ،کرکي ، نذر لغیرالله ،له زیارتونو څخه داولادونو یاشفا غوښتنه اوداسې نور ... نوځکه به عالم دغه لور ته پوره توجه کوي ، ډیری مفسرین د {ویزکیهم }همدغه تفسیر کوي . درسول الله صلی الله علیه وسلم ددعوت سلسله هم دغه ډول وه ،

په دې برخه کې به علماء لمړی دصحیح عقائدو بیان کوي ،اوبیادي په ښه طریقه سره دباطلو عقائدو دتردید بیان وکړي ، اودیوي یوي عقیدي په اړه دي داسې په حکمت سره بیان وکړي چې دخلکو په ذهن کې هغه راشي ،اوکه ممکنه وي دیهودو ،نصاراوو ،اومشرکینو دځینو عقائدو په بیان سره دي تمثیل ورکوي .

اوله دي وروسته دي هغه ځانګړو غلطو رواجونو ته هم مخ وراړوي، چې زمونږ په ټولنو کې دځینونا روا عقائدو سبب شوي ،مثلا دمحرم په میاشت کې غم کول ،دصفري میاشت دمرضونو اوآفتونو میاشت ګڼل اوبیا له همدي امله په دغه میاشت کې کوزدي نه کول . اوداسې په کوژدنو او ودونو کې ځانګړي اعتقادونه .

اوبیا چې ترڅومه ممکنه وي ،نو خلکوته دي ددین تعلیم ورکړي ،یاپه بل تعبیر ددرس اوتدریس سلسله دي پیل کړي ، ځودراتلونکي لپاره په خلکو کې دین لانبه ودې وکړي اودعلماوو وارثان موجود وي ،چې همدغه ټکي ته په وړاندیني آیة کې اشاره شوي چې {ویعلمهم الکتاب }په دې سلسله کې ټول دیني فنون داخل دي ؛ ځکه ټول دقرآن کریم دفهم اوزده کړي لپاره دي.

همدارازدي درسول الله صلی الله علیه وسلم دحدیثو سلسله پیل کړي ، نورکه هغه دحدیثو ځانګړي درسونه وي اوکه دحدیثو ددرس سلسله وي ، همدارازدي دفقهي دمسائلو ددرس سلسله هم ورضم کړي چې ددین لانبه تشریح وي . همدغه تورو ته په {والحکمة} توري کې اشاره ده .

اوپه آخرکې دې تورو ته هم اشاره ده ،چې له دي امله دي دخلکو تزکیه ،اصلاح ،اوتعلیم نه پریږدي چې هغه تراوسه پوري په څه نه وخبر اواوس به څرنګه داکار شونی وي. {وانکانوا من قبل لفی ضلال مبین]

نوربیا .....

ابو ظهیر

د اسلام غزوات او سرایا

سرية القراء يعني دبير معونه قصه

په همدې (صفر) کې بله پيښه دا وه چې د "عامربن مالک ابو براء" په نوم يو سړی رسول الله ته راغی او هديه (ډالۍ) يې وړاندې کړه، رسول الله دهغه قبوله نکړه او ورته يې داسلام قبلولو دعوت ورکړ، هغه اسلام نه قبول کړ او نه يې ورنه انکار وکړ بلکې وې ويل:

که تاسو خپل څو تنه ملګري د نجد لورته داسلام د دعوت په غرض وليږئ اميد دی چې هغوی به اسلام اومني.

رسول الله ورته وفرمايل: زه د نجد له خلکو اندیښنه او خطر لرم ؛ابو براء وويل: زه ضامن يم !

رسول الله هغه اويا تنه صحابه چې ورته قراء (قاريان) ويل کېدل له ابو براء سره يوځای واستول او "منذربن عمرو ساعدي" ورته امير مقرر کړ.

دا نهايتي پاکه او سپيڅلې ډله وه، چې دور ځې لخوا به يې دغره نه لرګي راوړل ماښام به يې هغه پلورل او په هغو پيسو به يې دصُفې داصحابانو لپاره خواړه برابرول او د شپې څه برخه به يې د عظيم الشان قرآن په درس او څه برخه په قيام اليل او په تهجد لمانځه کې تيروله.

"معونه بير" ته چې کله ورسيدل هم هلته تم شول، رسول الله ورته د "عامر بن طفيل" (دبني عامر قبيلې مشر او د ابو براء وراره) په نوم يوليک ورکړی و، کوم چې يې د حضرت "انس" ماما "حرام بن ملحان" ته په لاس ورکړو.

معونه بير [چې دمکې او عسفان ترمنځ راځي په شاو خوا کې يې بني هذيل، بني سليم او بني عامر ميشت دي زرقاني ۲ټوک ۷۴ مخ] ته درسيدو سره هم مهال "حرام بن ملحان" درسول الله ليک عامر بن طفيل ته ويوړ، عامر بن طفيل دليک لوستلو څخه وړاندې يو تن

ته د نوموړي قتلولو اشاره وکړه ،هغه تن له شاه نه په نیزه وواهه دحضرت حرام بن ملحان له مبارکې خولې ووتل:

الله اکبر فُزتُ ورب الکعبة

ژ: الله اکبر ! سوکند دی د کعبې په رب زه کامیاب شوم.

د بني عامر د قبیلې خلک یې د صحابه وو قتلولو ته وهڅول خو د عامر دتره "ابوبراء" لخوا ورته د پناه ورکولو په وجه د بني عامر قبیلې خلکو ورسره له مرستې څخه انکار وکړ.

عامر بن طفیل تري مایوس شو د بني سلیم ، عصیه، ذکوان، او رعل قبیلې له خلکو یې کومک وغوښت هغوی ورسره یوځای شول او له کوم قصور پرته یې صحابه شهیدان کړل، یواځې "کعب بن زید انصاري" ژوندی پاته شو ، هغه داسې چې نوموړی زخمي شو هغوی فکر وکړ چې د مړ خو ساه پکې پاته وه وروسته بیدار شو او تر یوې مودې ژوندی وچې بیا په خندق غزوه کې شهید شو ،له هغه پرته دوه تنه نورهم خوندې پاتې ول یو صحابي نوم منذر بن محمد او دبل نوم عمرو بن امیه ضمري دی، دې دواړو ځنګل کې څارووې څرول، ناڅاپه یې اسمان کې مرغان ولیدل وډار شول او وې ویل: څه پیښه خو ضرورده کله چې نژدې شول ، وینې چې تول ملګري یې په وینو کې لمبیدلي او د شهادت په بسترو ویده پرته وو دواړو پخپل منځ کې مشوره وکړه چې څه وکړو؟ "عمرو بن امیه" وویل:

مدینې ته به لاړشو اورسول الله ته خبر یوسو !

منذر ویل: خبر خو به هسې هم ورسي ! مونږ ولې د شهادت څخه وروسته شو؟

دواړه وړاندې ورغلل حضرت "منذر" د جنګیدو وروسته شهید شو او "عمرو بن امیه" ژوند ونیول شو عامر بن طفیل ته یې ورو ست عامر دهغه د سر وښتنان وخریل او په دې یې پریښود چې:

مور یې دیو غلام ازاد ولو نذر منلی و ، دهغې د نذر په بدل کې ازاد کړ (زرقاني ۲ټوک ۷۷مخ)

په دې جنګ کې د حضرت "ابوبکر صدیق" ازاد کړی غلام "عامر بن فهیره" هم شهید شو د هغه جنازه اسمان ته پورته شوه عامر بن طفیل یې د منظر په لیدلو له خلکو وپوښتل:

مَنِ الرَجُلُ منهُم لمَا قُتِل رأیته رُفِع بین السمآءو الارضِ حتّی رأیتُ السمآءَ من دونه

ژ: په مسلمانانو کې هغه څوک و ، چې کله قتل کړای شو ،ما لیدل چې هغه د زمکې او اسمان ترمنځ پورته شو تر دې پورې چې اسمان د هغه نه لاندې پاته شو. خلکو وویل: هغه عامر بن فهیره و (طبري ۳ټوک ۳۵مخ)

او د بخاري په روایت: عامر بن طفیل وویل:

لقد رأيته بَعد ما قُتِل رُفِع اِلى السماء حتّى انّي لَا نظرُ اِلى السماء بينه وبين الارضِ ثُمّ وُضِع

ژ: ما دقتل وروسته دغه شخص ولید چې لاش يې داسمان لورته پورته کړای شو چې داسمان او زمکې ترمنځ زورند و، اوبيا په زمکه کيښودل شو.

"جابربن سلمی" څوک چې د "عامر بن فهيره" قاتل و، روايت کوي: کله چې ما په عامر بن فهيره دنيزې وار وکړ نو دغه مهال دهغه له خولې دا لفظ ووت:

فُزتُ وَاللهِ! په خدای سوګند هدف ته ورسيدم!

ددې په اوريدو زه حيران شوم چې کوم هدف ته ورسيد؟ "ضحاک بن سفيان" ته راغلم او هغه ته مې دا واقعه تپره کړه هغه وفرمايل: چې جنت ته ورسيدم! ددې په اوريدو هغه مسلمان شو!

وَدَعانِي ذلک مارأيتُ مِن عامر بن فهيره مِن رفعِهِ اِلى السماءِ علوا.

ژ: زما داسلام راوړو باعث داشو چې ماوليدل عامر بن فهيره اسمان لورته ته وخوت (رواه عبد الله بن مبارک)

ضحاک دا واقعه رسول الله ته په ليک کې وليکله رسول الله وفرمايل:

اِن الملائكة وَارَت جُثّتَهُ فِي عِلِيين

ژ: فرښتو دهغه جسد پټ کړ او عليين ته يې ويوړ (الخاصايص الكبرى ۱ توک ۲۳۲ مخ)

او په يوبل روايت کې دي چې دهغه لاش فرښتو پټ کړاوبيا مشرکانو ونه ليدل چې دهغه جسد کوم لورته لاړ؟ په دې روايت کې د "ثم وُضِع" لفظ ندی راغلی، څنګه چې دامام بخاري په روايت کې راغلی دی، امام بيهقي وايي: په دې دواړو روايتونو کې تعارض نشته ممکن چې دهغه جسد لومړی اسمان ته پورته کړای شوي وي اوبيا وروسته بيرته راوړل شوی او په زمکه اينبودل شوی وي او علامه سيوطي وايي: د "ثم وُضِعَ" لفظ په ځينو طرقو کې راغلی او دطرقو په زياترو اسانيدو کې هم راغلي چې دهغه جسد اسمان ته پورته اوپټ شو، موسی بن عقبه روايت کوي: چې عروه بن زبير ويل: دعامر بن فهيره جسد هيڅ ځای ونه مندل شو دخلکو ګومان داو چې فرښتو دهغه جسد اسمان کې پټ کړ (الخصايص الكبرى ۱ توک ۲۲۳ مخ)

رسول الله ته چې کله ددې واقعې په اړه خبر ورکړل شو نو دومره صدمه ورته ورسيده چې په ټول عمر کې ورته دومره صدمه نه وه رسيدلې او تر يوې مياشتې پورې يې دسهار لمانځه په قنوت کې هغوی ته بنبره کوله بيا يې صحابه وو ته ددې واقعې خبر ورکړ چې ستا سو ورونه او دوستان په شهادت رسيدلي اوهغوی له الله تعالی څخه داغوښتنه کړې وه:

چې زمونږ ورونوته داپيغام ورسوه! چې مونږ دخپل رب سره يوځای شوي يو! مونږ دهغه نه راضي يو او زمونږرب له مونږ څخه راضي دی.

(۲۹ مه برخه)

مفتي ابو محمد (عقاني)

فقهي مسائل

دجهاد

کفارو سره دجګړې داختتام اسباب :

اسلام منل ،جزیه ورکول ، یا سوله !

دمعاهدې پر وخت دمسلمانو شویو بنځو هجرت اودمهرونو دفعه یې !

کله چې دمسلمانانو امام یا یې نائب دسولې په معاهده کې دا شرط وضعه کړي ، چې کوم مسلمان چې له کفارو څخه مسلمانانو ته راځي، هغه به بیرته ورلیږي او مسلمانانو سره داوسیدلو اجازه به نه ورکوي ،او یا داسې کومه ماده شرط نکړي، بلکې مطلقا یې پریږدي ،نه دبیرته استرداد او نه دعدم استرداد تذکر پکې وکړي ،چې همدا مذکورو صورتونو کې مسلمانه بنځه له کفارو څخه مسلمانانو ته رامهاجره شوه ،نو دجمهورو علماوو دقول پر اساس پر مسلمانانو باندې ددې بنځې میړه ته، ددې دمهر بیرته ورکول واجب ندي،چې پدې جمهورو فقهاوو کې احناف رح حنابله رح او اظهر قول دشوافعو رح شامل دی ، ددوئ دلیل دادی، چې یو خو اسلام له منلو وروسته دبنځې نکاح لدې کافر میړه سره ختمه شوي او مهر خو ددې بنځې خپل حق دی ، بل داچې دا بضعه مال ندی، چې ترڅو پورې د امان سره کوم ډول تعلق پیدا کړي ،هو که څوک ووایې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په بعضو مواضعو کې دبعضې مهرو نو غرامات ورکړي، نو ځواب ترې دادی ،چې داهغه وخت ووچې منعه یې د واپس کولو نه وه اوبل دا سې صورتونو کې دا ډول بنځې په عموم کې داخلې دي لکه همدا مسئله الموسوعة الفقهية کې داسې لیکي چې (...أَمَّا غُرْمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَهْرَ فِي بَعْضِ الْمَوَاضِعِ فَإِنَّهُ كَانَ قَبْلَ مَنْعِ رَدِّهِنَّ وَدُخُولِهِنَّ فِي عُمُومِ: "مَنْ جَاءَنَا مُسْلِمًا مِنْكُمْ رَدَدْنَاهُ "(، أخرجه مسلم(3 / 1411 ـ ط الحلبي)

بعضي علماء وایې: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم لدوئ سره دسولې په مهادنه یا معاهده کې داشرط اینبی وو ،چې کله که

ستاسو څخه کومه مسلمانه ښځه مونږ ته راغله، نو بیرته به یې درلیږو، خو وروسته دا حکم پدې کریمه آیت سره منسوخ شو: (فَلا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ} (سورة الممتحنة / 10.) او مالکیان حضرات اوشوافع په غیر اظهر قول کې فرمایي چې: کله مسلمانانو

ځارونکي په دې اند دي، چې طالبانو د خپلې پنځلس کلنې مبارزې پر مهال پر بمانه قربانۍ ورکړي، ګڼ مشران یې وژل شوي او یا هم نیول شوي، مګر تر اوسه طالبان د قیادت له کمښت سره نه دي مخ شوي او هر یو یې، چې راځي، له پخواني هغه ډېر فعال وي.

د ځارونکو په اند طالبان له هغې مرحلې ډېر پخوا تېر شوي، چې د مشرانو او قوماندانو مرګ او بند یې پر فعالیتونو اغېز وکړي، بلکې طالبان داسې یو جوړښت لري، چې دوی یې په لوی لاس له رسنیو سره نه شریکوي او نه هم رسنۍ تر اوسه پر دې توانیدلي، چې د طالبانو ستراتیژي په اسانه وپیژني.

طالبان له تېرو پنځلسو کالو راهیسې پر دې ټینګار کوي، چې تر څو بهرني پوځیان په افغانستان کې موجود وي، دوی به یې پر خلاف جګړه کوي او که د سولې خبره وي، نو لومړی باید د جګړې له بهرني اړخ «امریکا» سره خبره وشي.

ته کومه مسلمانه ښځه را مهاجره شوه او مسلمانانو بیرته خپل میړه یا کفارو ته ورپرینښوده ،نو باید چې میړه ته یې هغه پیسې بیرته ورکړای شي، چې پدې ښځې یې مصرف کړي دي ،دوئ دلیل کې د(سورت الممتحنه آیت کریمه راوړي چې پدې عبارت سره داحکم داسې بیانوي : وَقَالَ الْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ فِي مُقَابِلِ الأَظْهَرِ: إِذَا أَمْسَكَتِ الْمُسْلِمَةُ وَلَمْ يَرُدَّهَا رَدَّ عَلَى زَوْجِهَا مَا أَنْفَقَهُ؛ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَآتُوهُمْ مَا أَنْفَقُوا} (سورة الممتحنة / 10.) ،

پدې پورتني آیت کې مهر مراد دی ،او همدا تفسیر ددې آیت کریمه عطاء رح کړي دی ،دوئ وایي چې کله الله تعالی حکم کړی، چې کله مسلمانه ښځه نه ورپریږدئ، نو په هغې مصرف شوي پیسې یې بیرته میړه ته وروسپارئ ! یو خو به وفاء بالعهد راشي او بل داچې کله داسلام دحرمت له مخې دا له خپل اهل څخه منعه شوه، نو مال یې باید ورته واپس شي ،داددې لپاره چې په دوه مواردو کې له خسران سره مواجه نشي، هم په مال او هم داهل په مورد کې ..... دې حوالو کې نور تفصیل کتلای شو:(الجامع لأحكام القران 18 / 58 ، وأحكام القرآن لابن العربي 4 / 1776 ـ 1778 ، والحاوي الكبير 18 / 419 ، ومغني المحتاج 4 / 263 ، وتحفة المحتاج 9 / 309 ، والمغني 8 / 464 ، وفتح القدير 5 / 208 ـ 209)

نوربیا.....

آه رهبر شهیدم!...

ابوصهیب حقانی هراتی

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا (الأحزاب : ۲۳)

گاهی شنفتن بعضی خبرها سخت و ناگوار کننده و غیر قابل باور است؛ ولی انسان از پذیرش و قبول آن چاره ای ندارد، تنها چیزی که به مسلمان قوت قلب بخشیده و مومن با توسل و تمسک به آن تسکین می شود کلام جاویدان الله پاک و فرامین ارزشمند رسول معظم اسلام صلی الله علیه و سلم اند که با تلاوت آیات قرآن کریم و مطالعه احادیث گهربار رسول اکرم صلی الله علیه و سلم در باب مرگ، شهادت، زندگی فانی دنیا، فضیلت صبر و استقامت و اینکه دنیا میدان امتحانات الهی است که اگر مسلمان در هر حالت مطیع فرمان های حق سبحانه و تعالی و عامل به سنت های نورانی رسول او باشد بدون شک تحمل هر نوع غم و اندوه بر وی آسان و گوارا می شود.

خبر شهادت رهبر شهیدم (عالیقدر امیرالمومنین منصور صاحب رحمه الله) از جمله آن اخبار سخت و ناگوار کننده بود (این خبر) شاید تحمل شود؛ اما رفتن زود هنگام ایشان شوک سختی بود که جز حسبنا الله و نعم الوکیل و آیات و احادیث وارده درباره صبر و استقامت هیچ سخن دیگری آدم را تسلی نمی دهد؛ رهبر فرزانه ای که عمرش را وقف جهاد فی سبیل الله و اعلای کلمه الله نموده بود.

آه رهبر شهیدم!...

رفتید و با رفتن تان قلب سربازان خود را غمگین و چشمان شان را به اشک، و نگاه شان را تا ابد به سوی خود دوختید، رفتید ولی در دل سربازان خود چنان جایگاه بسی ارزشمند کسب نموده بودید که هرگز فراموش شدنی نیست.

آه رهبر شهیدم!...

دوست داشتیم باشید و ما را همواره با فرمان های خود در مسیر جهاد و انقلاب یاری برسانید تا به آرمان امت اسلامی و شهداء برسیم، دوست داشتیم در غمها و شادی ها و مخصوصا لحظات خوش فتوحات فرزندان امارت اسلامی در کنارشان باشید و چشمان تان مثل سایر امت اسلامی با پیروزی های روز افزون و درخشان سربازان اسلام بر قشون کفار و غلامان شان

خنک و قلب نازنین تان شاد و خوشحال شود.

آه رهبر شهیدم...

یک دنیا کفر متوجه شما ابرمرد غیور بود، دشمنان تان با شهادت شما به عظمت تان اعتراف کردند، و امت اسلامی به قدر و قیمت تان باور داشته و یقین کرده و به شهادت شما افتخار می کنند.

آه رهبر شهیدم...

در این سالها لحظه ای آرام ننشستید و تمام وقت متوجه جهاد مقدس افغانستان بوده و شب و روز چون امیران صدر اسلام از حال امت اسلامی غافل نبوده و جهت کسب افتخار برای امت اسلامی از هیچ تلاشی دریغ نکردید، نمی خوابیدید چون می دانستید دشمن مکار و فریب باز، بیدار است و هر لحظه به کمین تان نشسته، و شما و اهداف و آرمان والای تان را تحمل کرده نمی تواند.

آه رهبر شهیدم...

خبر شهادت شما سربازان تان را جگرخون ساخته و دگرگون نمود؛ اما خون سرخ و با افتخار شما عزم ها را جزم و در روحیه فرزندان اسلام و سربازان فداکار تان تاثیر مثبت و عظیم خواهد گذاشت و بر خون سرخ شهدای اسلام و شما تا تحقق آرمان تان با نایب لایق شما بر شهادت و اطاعت بیعت می کنند و ان شاء الله شهادت شما ای فرزند رشید اسلام باعث تقویت و تنومندی هرچه بیشتر درخت تنومند اسلام گردیده و سرآغاز مبارزه با عزمی فولادین و راسخ تر علیه کفار و مزدوران شان خواهد شد.

رهبر شهیدم...

دشمنان صلیبی که شما را به درجهٔ رفیع شهادت رساندند در واقع همان قاتلان حرفه ای و جنایتکاری اند که هزاران در هزار افغان مظلوم و بی گناه، و مسلمانان عاجز و بی کس را در سرتاسر دنیا شهید و بی خانمان ساخته اند، آنان گمان بردند که با برداشتن شما از صفحهٔ گیتی به اهداف شوم خود نزدیک تر شدند؛ اما کور خواندند بلکه با شهادت پر افتخار شما هزاران شیفته و دلباختهٔ اسلام و شهادت رهسپار جهاد و ایستادگی می شوند؛ کفار، گمان بردند که یک منصور بود و شهید ساختند؛ ولی غافل از اینکه با خون سرخ منصور هزاران منصور دیگر سر برآورده و راه پر افتخار منصور را تا نیل به شهادت و یا تحقق آرمان منصور خواهند پیمود.

آه رهبر شهیدم...

خوش به حال شما که با شهادت پر افتخارتان به قافلهٔ شهدای اسلام و رفتگان افتخار آفرین امت اسلامی بالخصوص یار غار و محبوب قلب خود عالیقدر امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله پیوستید و فراق شما از ایشان چندان طول نکشید؛ اما ایکاش رهبرم می بودید و درختی که به زحمت و فداکاری فراوان، شما و امیرالمومنین فقید رحمه الله غرس نموده بودید را آن هنگام که به بار می نشست را مشاهده می کردید و ایکاش تا سالهای سال در قید حیات می ماندید.

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، وارْحَمْهُ، وعافِهِ، واعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، واغْسِلْهُ بِالْماءِ، والثَّلْجِ، والْبَرَدِ، ونَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا، كَما نَقَّيْتَ الثَّوبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دارا خيراً مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلاً خَيْراً مِنْ أَهْلِهِ، وزَوْجاً خَيْراً مِنْ زَوْجِهِ، وأَدْخِلْهُ الجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ.

اسلامي فقه

ستونزه

او که د ستونزې حل؟

استاد محمد نعيم جليلي

له کله نه چې اسلامي فقه په (ديموکراتيکه)ټولنه کې د تطبيق له ډګر نه لرې شوی ، (پرځای يې وضعي بشري قوانين داجراءورګرځيدلې)، کرار کرار يې په مختلفو ساحو کې د حقيقت، مشروعيت اوحقانيت په اړه شکوک او شبهات راپيدا شوي دي او ګورو چې بيلابيلې بې دينه او سيکولر کړۍ دا ستونزې راولاړوي ، بل پلو ته يو شمير سطحي او ناپوهه مسلمانان د ناپوهۍ له کبله ورته زمينه برابروي،لدې کبله ښايې چې د اسلامي فقهي پر حقيقت ، موقعيت او يو شمير هغو ځانګړنو خبره وکړو ، چې په دې فقه کې يې د پايښت او تطبيق استعداد رامنځ ته کړی دی.

فقه څه ته وايي؟

د يادونې وړ ده چې فقه د اصول فقه د علماوو او فقهاوو تر منځ جلا جلا تعريفونه لري.

د اصول فقه علماوو د فقهې لپاره دري پراوونه ذکر کړي دي چې په هر پراو کې ځانګړی تعريف لري

په لومړي پراو کې فقه د کامل شريعت سره مرادفه کلمه ښودل شوې ده ،لدې کبله امام ابو حنيفه رحمه الله د فقهې تعريف داسې کوي:

(الفقه معرفة النفس ما لها و ما عليها) فقه ديته وايي چې يو انسان خپل ټول حقوق او واجبات وپيژني. چې په دې کې عقايد ، اخلاق او عملي احکام ټول شامل دي. او د امام ابو حنيفه د (الفقه الاکبر) کتاب په همدې پراو کې ليکل شوی دی.

په دوهم پراو کې چې کله په علومو کې د تخصص قضيه مطرح شوه ، نو له فقهې څخه د عقايدو ارخ وويستل شو او تعريف يې داسې وکړل شو: (هو العلمُ بالأحکام الفرْعيّة الشّرْعيّة المُسْتَمَدّة منَ الأدلّة التّفصيليّة.) فقه د هغو فرعي او شرعي احکامو پوهه ده چې له تفصيلي دلايلو څخه

اخیستل شوي وي. فرعي احکام د عقایدو څخه پرته احکامو ته وایي خو شرعي احکام بیا ټولو قلبي او د جوارحو اعمالو ته شاملیږي ،چې په دې پړاو کې د تصوف علم هم د فقهې په چوکاټ کې داخل و. خو په درېیم پړاو کې بیا د فقهې تعریف نور هم خاص شوی دی چې وایي: (الفِقْهُ هُوَ العِلمُ بِالأَحْكَامِ الشَّرْعِيَّةِ الفَرْعِيَّةِ العَمَلِيَّةِ المُسْتَمَدَّةِ مِنْ الأَدِلَّةِ التَّفْصِيلِيَّةِ) فقه د هغو شرعي ، او عملي فرعي احکامو علم دی چې له تفصیلي دلایلو څخه اخیستل شوي وي.

په دې پړاو کې فقه یوازې د جوارحو تر اعمالو پورې خاص کیږي او د تصوف علم هم ترې وځي.

د فقهاوو له نظره:

خو بل پلو ته فقهاء بیا د فقهې لپاره دوه تعریفونه ذکر کوي.

۱ : فقه دهغو شرعي عملي احکامو او مسائلو یادولو او زده کولو ته وایي چې له شرعي معتبرو مصادرو څخه راویستل شوي وي. په دې تعریف کې فقه د فقیه صفت دی

۲: فقه د هغو شرعي او عملي احکامو د مجموعې نوم دی، چې له شرعي معتبرو مصادرو څخه اخستل شوي وي. چې په دې تعریف کې بیا فقه د احکامو د مجموعې وصف دی.

دپورتنیو تعریفونو په رڼا کې ویلی شو ،چې د اصولو د علماوو له نظره فقه د هغې عملیې نوم دی ،چې له لارې یې یو مجتهد د شریعت له تفصیلي دلایلو څخه احکام راباسي. خو د فقهاوو له نظره فقه یا دهمدغو راویستل شویو مسایلو نوم دی او یا هم د هغه چا وصف دی چې دغه مسائل یې زده کړي وي.

فقه کې اختلاف ولې؟

دلته یو سوال مطرح کیږي چې که فقه او شریعت سره یو شئ وي، نو شریعت خو د الله تعالی له پلوه راغلی دی، څرنګه کیدې شي چې دومره اختلاف ومني ، او ورسره د مسلمانانو ترمنځ دغه کرکې او نفرتونه وزغمي؟ او آیا دا مناسبه نه وه ،چې دا ټول شرعي او فقهي احکام د قطعي نصوصو له لارې ثابت شوی وی؟ او آیا همدې فقهې په اسلام کې د اختلافاتو بنسټ نه دې ایښې؟

د دې سوال په ځواب کې باید ووایو چې د شریعت هغه احکام چې د دین اساس او بنسټ تشکیلوي ،که هغه عقیدوي امور دي او یا عملي ،دا ټول په قطعي او محکمو نصوصو ثابت شوي دي او هیڅ ډول اختلاف په کې نشته ، ځکه چې الله تعالی همداسې غوښتي دي ،چې په هر عصر او زمانه کې باید ثابت پاتې شي، د بیلګې په توګه حدود ، قصاص، د میراث احکام ، د شخصي احوالو زیات شمیر مسائل او داسې نور.....

خو هغو مسایلو کې چې الله تعالی په کې د عصر او زمانې په بدلیدو او یا د انسان د فکري او عملي توپیرونو پر بنسټ تغییر او بدلون غوښته ، د هغو په اړه الله تعالی اساسي خطوط وضع کړی دي، خو د هغې د عملي تطبیق بڼه ، تکییف او د یو شمیر اړوند فرعي مسایلو فهم او استنباط دنده یې انسانانو ته سپارلې ده. په همدې مواردو کې اختلاف راغلی دی، چې د امت لپاره رحمت دی او د اسلامي شریعت عموم او شمول یې تضمین کړی دی،له همدې کبله زیات شمیر صحابورض په داسې مسائلو کې

سره اختلاف کړی دی، خو هیڅکله د هغوی اختلاف د تفرقې او کرکې باعث نه دی ګرځیدلی، خو کله چې د شریعت له دغه فطري او طبیعي اختلاف سره د انسانانو خواهشات او نفسي غوښتنې یو ځای شوې، په امت کې بې کرکې او نفرتونه راپیدا کړي دي.

په شریعت کې د فقهي اختلاف حکمت:

د شریعت په احکامو کې اختلاف د یو ستر حکمت لپاره ایښودل شوی دی، که په فقهي مسائلو او شرعي احکامو کې د اختلاف مجال او ورټیا نه وی، او د شریعت احکام په قطعي نصوصو ثابت وی، نو هیڅکله به په اسلامي ټولنو کې دا دومره ستر فکري پرمختګ نه وی شوی، دغه ستر فقهي او قانوني میراث به نه وی رامنځ ته شوی، د انسانانو افکار او استعدادونه به جامد او بې ګټې پاتې وې، په مسلمانانو کې به د لسو پیړیو نه زیات د نړۍ په بیلابیلو برخو او قومونو او د بیلابیلو تهذیبونو درلودونکو انسانانو د قیادت او رهبرۍ ورټیا نه وه رامنځ ته شوې

.دوه پوښتنې:

یو شمیر متجددین او سیکولر عناصر وایي: چې اسلامي فقه د یو شمیر علماوو نظریات دي، له هغو څخه وتل هیڅکله د شریعت څخه د وتلو په معنا نه ده، د دې ترڅنګ دا هم وایي چې اسلامي فقه د اوسنۍ زمانې ستونزې نشي حل کولې او د یوې پخوانۍ تاریخي پدیدې په ستر ګه ورته ګوري.

د دې پوښتنې دوه اړخونه دي.

یو اړخ یې دا دی چې آیا فقه او وضعي قوانین سره توپیر لري او که نه ؟ او دوهم اړخ یې بیا دا دی چې آیا اسلامي فقه د اوسنۍ زمانې مشکلات حل کولې شي او که نه؟

د اسلامي فقهي او وضعي قوانینو تر منځ توپیر:

اسلامي فقه لدې سره چې د یو شمیر علماوو نظریات دي، خو دا ټول آراء او نظریات په شرعي نصوصو "کتاب الله او سنت" مبتني دي، آن تر دې چې په اجماع او قیاس سره ثابت احکام هم کتاب الله او سنتو ته راجع کیږي لدې څخه دا څرګنده شوه، چې په اسلامي فقه کې قداست د مصادرو او منابعو له پلوه راځي، او بل پلو ته له دغو مصادرو څخه د استنباط او اجتهاد عمومي قواعد او ضوابط هم له الهي نصوصو څخه اخستل شوي دي، چې په دې سره یې له انساني تاثیراتو څخه خوندي کړې ده، په داسې حال کې چې وضعي قوانین د خپلو ټولنو مصادرو او منابعو سره بشري لاس ته راوړنه ده

او د بشري قوانینو او مصادرو او د الهي قوانینو او مصادرو تر منځ بنسټیز توپیر دا دی، چې بشري قوانین د انسان د نفسي غوښتنو او محیطي شرایطو له اغیز څخه پاک نشي پاتې کیدې، خو الهي قوانین او مصادر بیا له دغو ټولو نیمګړتیاوو څخه پاک دي. بل پلو ته اسلامي فقه د تل لپاره د احکامو په تنفیذ او تطبیق کې د دنیوي جزاء او اخروي جزاء تر منځ تړاو راولي او دا په ډاګه کوي، چې له دنیوي جزاء څخه خلاصون هیڅکله د اخروي عذاب څخه د نجات سبب نشي ګرځیدی، بل پلو ته اسلامي فقه که د معاملاتو په اړه تکلیفي احکام (حلال او حرام) بیانوي، ترڅنګ یې وضعي احکام (صحت او بطلان) هم په ګوته

کوي ، تر څو د انسانانو ترمنځ په دنیا کې هم د شخړو او جګړو مخنیوی وشي. له همدې کبله دیندارې انسانان یوازې د وضعي قانون څخه د خلاصون په فکر کې نه وي ، بلکې تر څنګ یې د اخروي مواخذې پوښتنه هم کوي، خو د وضعي قوانینو پلویان بیا د قانون له منګولو څخه د ځان خلاصولو لپاره حیلې او سازشونه کوي او د اخروي نیوکې پروا هم نه ساتي.

آیا اسلامي فقه انساني ستونزې حل کولې شي؟

دا چې اسلامي فقه اوس (په دیموکراتیکو ټولنو کې)د تاریخ برخه ګرځیدلې ده او(د سیکولرستانو په آند) نشي کولې چې انساني ستونزې حل کړي ، په دې اړه تاریخ ګواه دی، چې اسلامي فقهې دیارلس پیړۍ د بیلابیلو ولسونو او هیوادونو مشکلات حل کړي او ستونزې یې هوارې کړي دي، آن تر دې چې د جمود او تقلید په پرا و که هم اسلامي فقهې د مختلفو ټولنو مشکلاتو ته د پای تکی ایښی دی، او هغه یې حل کړي دي.

حقیقت دا دی چې که فقه د انساني ژوند له بیلابیلو ډګرونو څخه لرې شوې نه وې، نو لا تر اوسه به یې د ټولنو رهبري کوله او ستونزې به یې حل کولې ، ځکه چې د فقه په فطرت او طبیعت کې دا قوت او ځواک شته ،چې په هر عصر کې د خپلو ثوابتو د ساتلو سره سره د انساني ژوند سره اړخ ولګوي او سازګاري ولري.

ستونزه له دې راولاړه شوې ده، چې له څه مودې راهیسې فقه د ژوند له مختلفو عملي ډګرونو څخه ویستل شوې ده او ځای یې وضعي قوانینو نیولې دی. نو د فقه قابلیت او وړتیا د خلکو له اذهانو وتلې ده.

هو که چیرې د انساني ستونزو د نه حل کولو معنا دا وي ،چې اسلامي فقه د دوی د خواهشاتو او نفسي غوښتنو استجابت نه کوي، نو دا خبره په خپل ځای سمه ده ، ځکه چې فقه هیڅکله د انساني مظالمو او بې عدالتیو لپاره آله نشي ګرځیدی او نه د انسان د خواهشاتو تابع کیدی شي، بلکې غواړي چې انسان د ژوند په ټولو اړخونو کې رهبري کړي.

بل پلو ته که وګورو چې اسلامي فقه د لرې مودې لپاره د ژوند له ډګر څخه لرې شوې ،خو ولسونه یې په دغه لرې کیدو خورا زیات اندیښمن دي او ګورو چې په ډیره لیوالتیا او سرښندنې سره د اسلامي شریعت (چې همدا فقه ده) د بیرته راګرځیدو غوښتنه کوي، خو بل پلو ته ګورو چې وضعي فقه تقریبا د یوې پیړۍ راپدیخوا په اسلامي ټولنو حاکمه ده، چې ټول تر تر سپړمو راغلي دي او یوازې هغه عناصر یې د پاتې کیدو غوښتنه کوي چې شخصي مصالح یې ورپورې تړلي دي

په تیر پسي

د شهادت غوښتنې او فدايي عملياتو

په هکله شرعي دلائل

ليکوال: بن نايف الشحود الدمشقي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: مَرَرْتُ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَهُوَ يَتَحَنَّطُ، فَقُلْتُ: "يَا عَمِّ، أَمَا تَرَى مَا يَلْقَى الْمُسْلِمُونَ؟ أَيْ وَأَنْتَ هَهُنَا. قَالَ: فَتَبَسَّمَ، ثُمَّ قَالَ: الْآنَ يَا ابْنَ أَخِي. فَلَبِسَ سِلَاحَهُ، وَرَكِبَ فَرَسَهُ حَتَّى أَتَى الصَّفَّ، فَقَالَ: أُفٍّ لِهَؤُلَاءِ وَلِمَا يَصْنَعُونَ. وَقَالَ لِلْعَدُوِّ: أُفٍّ لِهَؤُلَاءِ وَلِمَا يَعْبُدُونَ، خَلُّوا عَنْ سَبِيلِهِ، أَوْ قَالَ: سَنَنِهِ - يَعْنِي فَرَسَهُ - حَتَّى أَصْلَى بِحَرِّهَا. فَحَمَلَ، فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ" (السنن الكبرى للبيهقي (٩/ ٧٦) (١٧٩١٩) صحيح).

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی نوموړی وايي: د يمامې د غزا په ورځ زه له ثابت بن قيس بن شماس سره نږدې تېرېدم، هغه خپل ځان خوشبويه کاوه ما ورته وويل: ای تره! د مسلمانانو حالت نه وينې چې له څه سره مخامخ دي او ته دلته يې؟ هغه راته وخندل او داسې يې وويل: ای وراره سم له لاسه درغلم، خپله وسله يې واخيسته په خپل آس سپور شو، ان تر دې چې صف ته راغی، داسې يې وويل: د مسلمانان او د هغوي کړنه د افسوس وړده، دښمنان او د هغوي عبادت غير الله ته د افسوس وړ دی، زما لاره او آس خوشې کړئ، تر څو زه د جګړې په اور کې ځان داخل کړم، په دښمنانو يې بريد وکړ او تر هغو يې جګړه وکړه تر څو شهيد شولو.

وعَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، أَنَّ عِكْرِمَةَ بْنَ أَبِي جَهْلٍ تَرَجَّلَ يَوْمَ كَذَا، فَقَالَ لَهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ: لَا تَفْعَلْ فَإِنَّ قَتْلَكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ شَدِيدٌ. فَقَالَ: خَلِّ عَنِّي يَا خَالِدُ، فَإِنَّهُ قَدْ كَانَتْ لَكَ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - سَابِقَةٌ، وَإِنِّي وَأَبِي كُنَّا مِنْ أَشَدِّ النَّاسِ عَلَى رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم. فَمَشَى حَتَّى قُتِلَ (السنن الكبرى للبيهقي (٩/ ٧٧) (١٧٩٢٠) صحيح مرسل).

ژباړه: له ثابت بناني رضي الله عنه روايت دی نوموړی وايي: يوه ورځ د ابو جهل زوي عکرمة پياده جګړه کوله خالد بن وليد ورته وويل: داسې کار مه کوه، ځکه ستا وژل کېدل او شهادت په مسلمانانو دروند تمامېږي، هغه ورته وويل: ای خالده! زما لاره خوشې کړه، ځکه ته خو له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ښه سابقه لرې، ما او پلار مې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلاف تر ټولو سخته مقابله کوله، پياده يې جګړه وکړه تر څو شهيد شولو.

٢٨- وعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، أَنَّ الْمُسْلِمِينَ انْتَهَوْا إِلَى حَائِطٍ قَدْ أُغْلِقَ بَابُهُ فِيهِ رِجَالٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَجَلَسَ الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى تُرْسٍ فَقَالَ: ارْفَعُونِي بِرِمَاحِكُمْ فَأَلْقُونِي إِلَيْهِمْ. فَرَفَعُوهُ بِرِمَاحِهِمْ فَأَلْقَوْهُ مِنْ وَرَاءِ الْحَائِطِ فَأَدْرَكُوهُ قَدْ قَتَلَ مِنْهُمْ عَشَرَةً (١) وَفَتَحَ الْبَابَ لِلْمُسْلِمِينَ، فَكَانَ سَبَبَ هَلَاكِ الْمُشْرِكِينَ وَقَتْلِ مُسَيْلِمَةَ. (السنن الكبرى للبيهقي (٩/ ٧٧) (١٧٩٢١) صحيح مرسل. البداية والنهاية ط هجر (٩/ ٣٣٣).

ژباړه: له محمد ابن سېرين نه روايت دی نوموړی وايي: د يمامې په جګړه کې خلک يو باغ ته ورسېدل چې دروازه يې تړل شوې او بنده وه، په داخل کې يې مشرکان وو، د مالک زوي براء په يو سپر کېناست، او داسې يې وويل: ما په نېزو کې پورته کړئ او د هغوي لوري ته مې ور وغورځوئ، هغوي نوموړی په نېزو کې پورته کړ او په باغ کې يې ور واچولو مسلمانانو ته يې دروازه خلاصه کړه، چې د مسيلمة الکذاب او د

مشر کانو د هلاکت لامل شوه، او نومورې یې پداسې حالت کې ومونده چې شهید شوی ؤ او له هغوي نه یې لس کسان وژلي وو.

ابن کثیر رحمه الله دغه قصه په تفصیل سره ذکر کړې چې ابو بکر صدیق رضي الله د مسیلمة الکذاب او بنو حنیفه قبیلې د مرتد شویو خلکو مقابلې ته خالد ابن ولید د څه له پاسه لس زره عسکرو په مشرۍ کې ولېږه، او مشرکانو یو لک کسان او یاهم له یولک کسانو نه هم زیات وو، د جګړې په پیل سره ډېر باندې چیان عربان وتښتېدل، مسلمانانو په مشرکانو هرار خیز یرغل وکړ او هغوي یې یو باغ ته د پناه ورلو لپاره اړ کړل، هغه باغ ته یې حدیقة الموت ویلې، مشرکانو پکې سنګر ونیولو مسلمانانو هغوي محاصره او کلابند کړل، د انس ابن مالک مشر وروړ براء بن مالک مسلمانانو د هغه په غوښتنه په ډال او سپر کې پورته کړ او باغ ته یې ور وغورځاوه، هغه په یوازې توګه له هغوي سره مقابله وکړه او د باغ دروازه یې پرانسته، مسلمانان پداسې حالت کې ورننوتل چې الله اکبر یې ویلو، او د مسیلمه تر قصر او مانې پورې ور ورسېدل، هغه یې د خپل قصر په مخ کې داسې ومونده چې لکه یوسور اوښ چې ولاړ وي، وحشي بن حرب چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره حمزه یې وژلی ؤ، او ابو دجانة سماک بن خرشة انصاري راوراندې شول خو وحشي پدې کړنه کې ورنه وراندې شولو، په خپله نېزه سره یې مسیلمه سوری کړ، او ابو دجانة په خپله توره سره له پاسه ووهلو اوویې وژلو، مسیلمة دیوسل او څلوېښت کلو عمر لرلو عمر یې زیات ؤ، خو عمل یې ناوره اوبد ؤ[1] البدایة والنهایة ط هجر (۹/ ۳۳۳).

د دلیل څرګندونه: کله چې صحابه کرامو رضي الله عنهم د نومورې صحابي عمل تائید کړ او د هغه دارادې په پلي کولو کې یې ورسره مرسته وکړه، دا پدې دلالت کوي د جهاد هر عمل اګر که وژل کېدل هم پکې یقیني وي روادی پدې اړه مثالونه او بېلګې زیاتې موجودي دي. عَنِ الْحَسَنِ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ أُهْرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ» جامع معمر بن راشد جلد ۱۱ صفحه ۳۴۶ مسند الحمیدي جلد ۲ صفحه ۳۴۶.

ژباړه: له حسن نه روایت دی نومورې وایي: یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې کوم جهاد غوره دی؟ هغه ورته وویل: د هغه کس جهاد غوره دی چې وینې یې تویې شي او آس یې زخمي شي.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَا مِنَ الْأَيَّامِ أَيَّامُ الْعَمَلُ فِيهِ أَفْضَلُ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ» قِيلَ: وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: «وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ مِنْهُ» مسند احمد: ۵ / ۲۸۶.

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی نومورې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د ذي الحجې له لسو ورځو نه پرته نورې داسې ورځې نشته چې الله جل جلاله ته عمل پکې ډېر غوره وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل شول په نورو ورځو کې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم پدې ورځو کې له عمل کولو نه غوره ندی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: نه، د الله جل جلاله په لاره کې جهاد هم پدې ورځو کې له عمل کولو نه غوره ندی، یواځې د هغه کس جهاد ترې نه غوره دی چې د الله جل جلاله په لاره کې جهاد ته له خپل آس سره لاړ شي خان او آس یې دواړه د الله جل جلاله په لاره کې قرباني شي.

د دلیل څرګندونه: له دې دواړو احادیثو نه معلومېږي چې د الله جل جلاله په لاره کې د سر او مال دواړو قرباني یواځې د سر او یاهم یواځې د مال په قرباني باندې اوچته ده، تر ټولو زیات ثواب هغه وخت مجاهد ته ورکولی شي چې د قرباني کچه یې لوړه وي فدائي مجاهد د همدې احادیثو مصداق دی. نورېیا...

امیرالمؤمنین شهید شو...

قاري سعيد

دا جمله کومه معمولي جمله نه ده، دا جمله به د اسلام په پرتمين تاريخ کي ديره لږه په مخه درشي. دا جمله دومره عادي او معمولي نه ده چې هر دور او زمانه يې د برداشت تاب ولري.

هوکي، دا جمله لومړی هغه مهال واورېدل شوه کله چې د امت محدث،فاروق اعظم او د اسلام دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د ابولؤلؤ د غدر له خنجر څخه خپل روح الله تعالی ته وسپارله. د مدينې هغه د خوښيو او روح ښونکو ولولو نه لبريزې کوڅې د ويړ او ماتم په هنګامو کې دوبي شوې، له خراسان تر مصره د حق د سنګريانو زړونه په يوه درانه غم ودردېدل او د تاريخ په زړه کې په لومړي خل په روښانه تورو دا جمله حک شوه چې : امير المؤمنين شهيد شو.

دا جمله دوهم خل هغه مهال تکرار شوه کله چې د اسلامي خلافت په وړاندې د بغاوت فتنه راپورته شوه، د نبوت پلازمينه مدينه يې محاصره کړه، او د وخت خليفه حضرت عثمان ذو النورين يې قرآن ته ناست په شهادت ورساوو. له شرقه تر غربه يو خل بيا د مؤمنانو زړونه ودردېدل، او مؤرخانو عنوان کيښود چې : أمير المؤمنين شهيد شو.

دې جملې د اسلامي تاريخ په لومړيو پيړيو کې څو خله بيا هم د تاريخ زړه ته لاره وکړه،کله چې حضرت علي رضی الله عنه د خوارجو د ظلم او جفا قرباني شو او کله چې عبدالله ابن زبير رضی الله عنه د حجاج د ظلم او استکبار تر غشو لاندې ساه ورکړه.

خو که تاسو د تاريخ کتاب درواخلئ. او د وروستيو پيړيو اروند فهرست يې وخيرئ، کله به هم په کې دا تاريخي جمله ونه مومئ.

هو کې، مور همېشه ستري قربانی ورکړي، لوی لوی اتلان ، توره وهونکي ، عالمان او مخکښان مو د شهادت له ويارە برخمن شوي، مګر د ويارمن تاريخ تنده مو دا ديره موده په دې جمله نه وه خروب شوي چې : أمير المؤمنين شهيد شو.

مور که په خانو پوري باروت وترل. مور که په تش لاس له الوتکو او کيمياوي بمونو سره دغړي ووهلی. زمور غوښې که په سيينو فاسفورسو کباب شوې. زمور په جسدونو کې دښتې ډکې شوې. زمور په بوټيو که د هوا مارغان ماره شول او مور که د قرباني او ايثار هره نداره د تاريخ په ګالرۍ کې ثبت کړه. مګر بيا هم زمور د معاصر تاريخ بشکلا نيمګړي وه. زمور ويارمن تاريخ هرڅه درلودل ، مګر دا جمله يې نه درلوده چې : أمير المؤمنين شهيد شو.

لله الحمد. ويار په داسې زعيم او أمير چې د صدر اسلام کارنامه يې ژوندۍ کړه. د عمر ، عثمان، علي او حسين رضوان الله عليهم لاره يې تشه پرې نه ښوده. بلکې د برم او پرتم له وروستني کم او کيف سره ، د ايثار او قرباني له تر تولو دنګ منقبت سره او د مظلوميت او خاتخارۍ له تر تولو هيبنوونکي رشادت سره د قرباني ډګر ته ورورانديي شو. د طاغوت تر تولو پرمختللي توغندي ته په هسکه غاړه او جګو سترګو ودريد او د بارودو اوفاسفورسو اور ته يې هرکلی ووايه . تردې چې د تاريخ زړه يو خل بيا ولرزېد او له پيړيو وروسته يې يو خل بيا په خپل خيګر وليکل : أمير المؤمنين شهيد شو.

شهيد أمير المؤمنينه ! درويارو ! او الله تعالی ته زاړی کوو چې پرتمين ايمان، توکل، خدمت او قرباني دې په خپل دربار قبوله کړي.

آمين يارب!



د ریګستان غاټول،

شهید مولوي محمود سیف الله!

عبدالرؤف حکمت

له نصوصو او تاریخي جریان څخه ثابته ده چې الله تعالی د خپل دین او خلقت د مقاصدو د ساتنې لپاره همیشه، په هر ځای، هر عصر او هر ډول حالاتو کې مجاهد او مبارز رجال پیدا کوي، تر څو د هغوی په واسطه د دین د ساتنې، دفاع او خپراوي فعالیتونه تجدید او ورته نوې ساه ورکړي.

د افغانستان په جنوب لویدیځ ځنډه، هغه ریګستان چې د کندهار له حدودو پیل بیا د هلمند جنوب او د نیمروز ولایت تر غربي او شمالي ساحاتو رسیدلی په دې ساحه کې د جهاد، ديني علم او دین ته د تعهد د نوي دوران لپاره الله تعالی د مولوي محمود رحمه الله په نوم یو متدین، مجاهد او مبارز ځوان انتخاب کړ، هغه چې په خپل ویاړمن کردار سره یې نه یوازې دا سیمه د امریکایي یرغل په وړاندې د جهاد په نه ماتیدونکي سنګر بدله کړه، بلکې د تعلم، تعلیم او دین ته د التزام فرهنګ یې هم په سیمه کې په میراث پربښود، چې له برکته یې اوس دا سیمه نه یوازې په جهادي فکر سمباله ده، بلکې د ديني مدارسو ډیوې هم په کې بلې دي.

راځئ یوه شیبه د ریګستان په سوزنده صحرا وو کې د دې راتوکیدلي غاټول د ژوند او کردار ننداري ته تم شو، تر څو یې دیوه مجاهد او مبارز شخص په حیث له ویاړمن تاریخ څخه خوند واخلو.

زوکړه او نشات

مولوي محمود د ملا عبدالحمید زوی چې د بلوڅ قوم له شاهوزی قبیلې سره یې تړاو درلود په ۱۳۹۲ هـ ق کال کې چې له ۱۹۷۲ میلادي سره سمون خوري د افغانستان د نیمروز ولایت د چخانسور ولسوالی مربوط د تپه نادعلي په کلي کې دنیا ته سترګې وغړولې.

نوموړي خپلې ابتدائي زده کړې په خپل کور او د کلي په مسجد کې پیل کړې، د کمونیستانو د واکمنۍ او شوروي یرغل په مهال د دوی کورنۍ ایران ته په هجرت اړ شوه، نوموړي څه موده د ایران په زاهدان کې سبقونه وویل او بیا پاکستان ته لاړ او د بلوچستان د مرکز کویټې په تجوید القرآن مدرسه کې یې زده کړې پیل کړې.

مولوي محمود رحمه الله په یوه کاملا علمي او جهادي چاپیریال او عصر کې راالوی شو، که له یوې خوا د دیار هجرت په بیلابیلو مدارسو

کې په زده کړو بوخت و، له بلې خوا څرنګه چې همدا مهال په افغانستان کې د کمونیستي کفر به خلاف مسلح جهاد روان و، نو جهادي جذبه يې هم ويده نه وه پاتې بلکې د تاندې ځوانې په موسم کې هغه مهال چې د کمونیزم په آخري واکمنۍ وروستي ګوزارونه روان و نومورې عملا د جهاد ډګر ته لاړ او د مسلح جهاد له خونده يې ځان خبر کړ.

مولوي محمود رحمه الله په نوې ځوانۍ کې د ډاکټر نجیب د واکمنۍ له سقوط دوه کاله وړاندې په لومړي ځل کندهار ولایت ته د جهاد لپاره لاړ، هلته يې دارغسان په سیمه کې په یوه جهادي معسکر کې حربي روزنه ترلاسه کړه او بیا يې د دامان، تخته پل او د کندهار ښار په شاوخوا کې په نورو جهادي معرکو کې هم برخه واخیسته.

له جهاد څخه له راستنېدو وروسته نومورې دبلوچستان مستونګ ته لاړ او هلته يې د دیني علومو تعلم ته دوام ورکړ، له دې وروسته مولوي محمود رحمه الله د پاکستان او ایران په بیلابیلو مدارسو کې تر هغه وخته دیني زده کړو ته دوام ورکړ تر څو په افغانستان کې د فساد او هرج ومرج په وړاندې د مبارزې جهادي صف یعني اسلامي امارت ظهور وکړ.

په اسلامي امارت کې شرکت او خدمتونه

د افغانستان د اسلامي امارت له تأسیس او پر مختګونو وروسته هغه مهال چې مجاهدینو د هرات ولایت مرکز فتحه کړ، څه موده وروسته مولوي محمود صاحب سره له څو تنو ملګرو د اسلامي امارت په صف کې داخل شو، نومورې څه موده په شیندند کې دنده ترسره کړه او وروسته د کندهار په هوایي ډګر برج راهدار کې مؤظف شو.

دغه مهال چې د کابل په شاخوا د طالبانو کلابندي راګرځیدلې او د چهار اسیاب په سیمه کې تعرضي خطوط و، د جهادي ضرورت په اساس مولوي محمود صاحب له خپلو ملګرو سره چهار اسیاب ته لاړ او هلته د وتلي مجاهد ملا دادالله اخند په ډلګۍ کې داخل شو.

مولوي محمود صاحب د شهید ملا دادالله اخند تر قیادت لاندې په جهادي کرښو کې ستر او د قدر وړ خدمتونه ترسره کړل، په دې لړ کې چې کله د تانک د مسلک ماهرینو ته ضرورت پیښ شو، مولوي محمود له ګڼو نورو مجاهدینو سره هرات ته لاړ او هلته يې په ځانګړي کورس کې د تانک او ګڼو نورو ثقیله اسلحو زده کړه او تخصص ترلاسه کړ. نومورې وروسته بیرته کابل ته راغې او کله چې کابل د طالبانو په لاس فتحه کیدو نومورې د هغو سوبمنو مجاهدینو له جملې څخه و چې د ریشخورو له استقامت څخه پلازمیني کابل ته داخل شول.

د کابل له فتحې وروسته مولوي محمود صاحب څه وخت د کابل د شمال په جنګي خطوطو کې پاتې شو او وروسته د خپلو دیني زده کړو د تکمیل لپاره مدارسو ته ستون شوچې په دې مرحله کې يې د ایران او پاکستان په بیلابیلو مدارسو کې دیني زده کړې تعقیب کړې، په ۱۴۱۸ هـ ق کال کې يې د ایران له مشهور سني عالم شیخ مولانا محمد عمر سربازي صاحب څخه علمي فیض ترلاس کړ او څو کاله وروسته يې د پاکستان په صادق اباد کوته سبزل سیمه کې په الجامعة السعدیه کې د دیني علومو او احادیثو د زده کړې مروجه سلسله پای ته ورسوله او د فضیلت دستار يې وتاړه.

له دیني علومو له فراغت وروسته چې کله د جهادي خدمت لپاره ستون شو، نو د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په هدایت او منظوري نومورې د بلوڅو مجاهدینو د ډلګۍ مشر وټاکل شو، او په دې دول يې د مستقلې ډلګۍ په چوکاټ کې فعالیت پیل کړ، چې یوه اندازه ملګري يې په کابل او نور د شمال په تخار ولایت کې په خدمت لګیا وو، په دې وخت کې مولوي محمود د څه وخت لپاره د کندهار ولایت د میوند ولسوالي د ولسوال په حیث هم دنده اجراء کړه، خو د نومورې جهادي ملګري په هغه ځانګړي قطعه کې په بسیج شوي و چې د امیر المؤمنین په فرمان له څلورو لویو ډلګیو څخه جوړه وه، مرکزیت يې د کابل به بالاحصار کې و او د هیواد په مختلفو جنګي محاذونو کې يې خدمت کاوو.

دامریکایي یرغل په تعقیب د شهید مولوي محمود د ډلګي ۱۲۰ تنه مجاهدین چې مشري یې حافظ غلام الله صاحب په غاړه وه او د تخار په جبهاتو کې د نورو زرګونو مجاهدینو سره یوځای بندیان شول چې له جملې یې ۴۰ تنه د دوستمي ملیشو لخوا په کانتینرونو کې شهیدان او پاتې یې د مولوي محمود صاحب په ډیرو هڅو او د پیسو په توسط له زندان څخه ازاد شول.

د یرغل په خلاف د متقابل جهاد پیل

د کابل له سقوط وروسته مولوي محمود له خپلو ملګرو او وسلو سره د هلمند د دیشو ولسوالۍ مربوط سرحدي سیمې برامچې ته لاړ چیرته چې نوموړي له پخوا څخه په یوه غرنۍ سیمه کې معسکر جوړ کړی و. د کندهار ښار له سقوط څو ورځې وړاندې د روژې په نیمایي کې امریکایانو او داخلي اجیرانو یې د برامچې په ملک غره کې په همدې معسکر برید وکړ، او په لومړي ځل په دې سیمه کې له یرغلګرو سره سخته جګړه شوه، چې د دښمن یو ټانګ په کې وویشتل شو، وروسته امریکایانو دا سیمه سخته بمبار کړه چې په پایله کې یې ۳۲ تنه مجاهدین شهیدان شول، د دې معسکر له نړیدو وروسته مولوي محمود صاحب د مشکاني غره په سیمه کې جهادي مرکز جوړ کړ، خو دا ځل یې ځان چریکي جګړې ته اماده کړ نو ځکه یې وسلې خوندي او ملګري یې متفرق کړل تر څو د دښمن د بمبار هدف ونه ګرځي.

له څو میاشتې ځنډ وروسته مولوي محمود صاحب خپل پخواني جهادي ملګري او یو شمیر علماء کرام رایوځای کړل تر څو د جهاد د پیل په اړه ورسره خبره شریکه کړي، مولوي عبدالعزیز جهادیار وایي چې په دې مجلس کې مولوي صاحب وویل چې: موږ یو اسلامي نظام درلود چې په ډیرو قربانیو مو تأسیس کړی و، صلیبیان راغلل او زموږ نظام یې ونړاوو، دښمن له هر لحاظه په ډیر قوي حالت کې دی او موږ تاسو هیڅ نلرو په داسې حال کې موږ ته څه کول په کار دي؟ آیا په همدې تش لاس جهاد پیلوو او که آرام کینو؟

د مولوي صاحب ددې خبرې په ځواب کې ځینو کسانو وویل چې: موږ له جهاد څخه منکر نه یو مګر دا هم وینو چې امریکایان ډیر په قوت کې دي، په ځمکه او هوا برلاسي دي او که یې په مقابل کې څوک ادنی حرکت کوي هم نو له منځه یې وړي...

ددوی په ځواب کې مولوي صاحب وویل: چې داسې ده نو تاسو په قرآن او احادیثو کې یو داسې دلیل او مبرر وپلټئ چې موږ له جهاد څخه معذور وبولي تر څو ټول خپلو کورونو او مدارسو ته ستانه شو او د امریکایانو تر واک لاندې د آرام ژوند پیل کړو.

ددې خبرې په اوریدو د مجلس ټول ګډونوال خاموش شول. لږ وروسته مولوي محمود صاحب خاموشي ماته کړه او ویې ویل: زما یقین دی چې تاسو د دین له نظره مبرر نه شئ پیدا کولای، د کفر په خلاف جهاد فرض شوی دی او چې فرض دی، زه به که په تش لاس هم وي دغه فریضه پیلوم، خیر دی که د دښمن په لاس موږ ووژل شو، لاسونه او پښې مو غوڅ شي او یا محبوس شو، نو به د الله تعالی په نزد واقعا معذور شو او الله تعالی ته وویو چې اې الله تعالی موږ خو ستا د فریضې د ترسره کولو عزم درلود مګر د همدې فریضې په لاره کې قتل او معیوب شوو نو ځکه رانه په نیمه کې پاته شوه.

په دې مجلس کې ملګرو ته د قناعت ورکولو نه وروسته مولوي محمود صاحب عملا د دښمن په خلاف د تعرضي بریدونو لپاره په تیاریو لاس پورې کړ، تر دې چې د ۱۴۲۴ هـ ق کال د ذوالحجة الحرام میاشتې په لومړیو کې یې لومړني عملیات د هلمند ولایت د دیشو ولسوالۍ په چوتو سیمه کې د ګوداګیانو په یوه مهم مرکز ترسره کړل.

حاجي ضرار چې ددې عملیاتو برخوال و، وایي: په چوتو کې د قومندان ایوب په مشرۍ د دښمن ډیر عسکر اوسیدل چې څو پوستې او مراکز یې درلودل، مجاهدینو لومړی ددوی په یوه مرکز حمله وکړه، پیره دار یې د چاړې په ګوزار وواژه او بیا مرکز ته نږدې خو د دښمن عسکر له دې مرکز څخه وتلي و، مجاهدینو څه شیان غنیمت کړل، ددې برید په تعقیب د چوتو بازار ته نږدې له دښمن سره مخامخ جګړه وشوه چې د قومندان ایوب ماما

په شمول ۷ تنه عسکر په کې ووژل شو او مالونه یې مجاهدینو په غنیمت ونیول.

د جهادي دعوت او عملیاتو دوام

مولوي محمود صاحب دا مهال له جهادي عملیاتو سره یوځای د دعوت پروګرام هم تعقیباوو، نوموړی د خپلې سیمې په اکثرو علماء کرامو، قبایلو او او قومي مشرانو وګرځېد او د جهاد دعوت یې ورکړ، چې له جملې یې ځیني ورسره په سر او مال ودرېدل او ځینو ورته د همکارۍ ډاډ ورکړ، له دې جملې د بلوڅو د محمدحسني قوم د یوه مشر حاجي غریب شاه دا تاریخي کارنامه د یادولو ده چې په ډیر سخت او امتحاني حالت کې یې مولوي محمود صاحب ته وویل چې جهاد یوازې په تاسو نه دی فرض بلکې موږ هم مسلمانان یو او په موږ هم فرض دی، تاسو جهاد پیل کړئ موږ په سر مال او حتی د ماشومانو او ښځو په قرباني کیدلو درسره ولاړ او هرې قربانۍ ته حاضر یو.

د مولوي محمود صاحب تر مشرۍ لاندې مجاهدینو د ۲۰۰۳ میلادي کال له نیمایي څخه د هلمند په جنوب کې په دښمن د بریدونو لړۍ پیل کړه، چې په ۲۰۰۷ میلادي کال د نوموړي د شهادت تر وخته یې خپله مولوي محمود صاحب مشري کوله، په دې اوږدو کې نوموړي د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون د عضو او د نیمروز ولایت د جهادي مسؤل په حیث هم دندې اجراء کړې.

په دې مرحله کې د شهید مولوي محمود تر مشرۍ لاندې ګڼ شمیر عملیات وشول لکه د دیشو ولسوالۍ په مرکز مکررې حملې، د مارجې او خانشین په مربوطاتو کې د دښمن په پوستو، مراکزو او کتارونو بریدونه، د ګرمسیر په سفار سیمه کې د دښمن په مرکز حملې، دغه راز د کندهار پنجوایي او د نیمروز ولایت بیلابیلو سیمو ته جهادي ملګري لیږل تر څو له نورو مجاهدینو سره په ګډه په جهادي عملیاتو کې برخه واخلي.

په دې مرحله کې د مولوي محمود صاحب جهادي مرکز د برامچې مربوط د مشکاني غره په سیمه کې وه چې د هلمند، نیمروز، او کندهار په مربوطاتو کې یې له نورو مجاهدینو سره اوږه په اوږه په جهادي عملیاتو کې ونده اخیسته، دغه راز په برامچه کې د نوموړي لخوا د مجاهدینو د تدریب لپاره یو معسکر هم تاسیس شوی و چې ګڼو مجاهدینو ته یې په جهادي اعداد سربیره د ریموټ جوړولو او نورو تخنیکونو زده کړې هم ورکولې دا معسکر اوس هم د موقعیت په تغیر سره موجود دی او جهادي خدمتونه ترسره کوي.

په دې جهادي مرحله کې یویو ځل د مجاهدینو لخوا د دیشو او خانشین ولسوالیو مراکز هم فتحه شول، څرنګه چې د بهرامچې مهمه سیمه بشپړه د مجاهدینو په کنترول کې وه، نو په ۲۰۰۶ م کال کې د دښمن یوه لویه قوه د بهرامچې په خوا راووته، خو مجاهدینو ورته د ساسولي په سیمه کې کمین ونیو او د دښمن ګڼ شمیر عسکر یې ووژل چې مړي یې په میدان پاته شول.

د دغه شکست د جبیره کولو او خپلو عسکرو د اجسادو د وړو لپاره د هلمند امنیه قومندان عبدالرحمان جان په خپله له یوې قوې سره بهرامچې ته راغی، خو مولوي محمود صاحب د نوموړي د مخابرې نمبر پیدا کړ او اخطار یې ورکړ که تر سبا له سیمې ونه وځي نو مجاهدین به ورباندې داسې برید وکړي چې پخوانی شکست به یې هیر شي، عبدالرحمن جان د دې اخطار په اوریدو په هماغه شپه کې خپل ټول عسکر او تشکیلات له بهرامچې وایستل او په دې ډول د دیشو ولسوالۍ مکمله د مجاهدینو په لاس کې شوه چې تر اوسه ورباندې واکمن دي، له هغه وروسته امریکایانو دوه ځله د هوا له لارې د بهرامچې په بازار چاپې وهلي او بازار یې نړولی دی چې هر ځل ورته مجاهدینو درانه تلفات هم اړولي نور دښمن په دې نه دی توانیدلی چې په دې سیمه کې کومه ثابته قرارګاه جوړه کړي.

په هلمند کې په جهادي خدماتو سربیره څرنګه چې مولوي محمود صاحب د نیمروز ولایت جهادي مسؤلیت درلود په نیمروز ولایت کې یې هم لوی جهادي خدمتونه وکړل، نوموړي لومړی د دې ولایت مختلفو سیمو ته دعوتي ملګري ولیږل تر څو علماء کرامو، مخورو او په کور ناستو مجاهدینو ته د جهاد پیغام واستوي، وروسته یې بیلابیلو

سیمو ته تشکیلات پیل کړل، او عملا یې په نیمروز کې په دښمن بریدونه شروع کړل چې له دې جملې د دلارام ولسوالی فتحه او د امنیه قومندان وژل کیدل، دغه راز په دې سیمه کې د هندوانو کمپ سوزول دیادولو وړ دي.

شهادت

۲۰۰۷ میلادي کال چې د جهادي عملیاتو او فتوحاتو د پراختیا یو مهم کال بلل کیږي، مولوي محمود صاحب غوښتل له خپل مرکز بهرامچې څخه نیمروز ولایت ته جهادي تشکیلات پراخ کړي، په دې لړ کې د همدې کال د جون په اتمه نیته چې د ۱۴۲۸ هـ ق د جمادی الثاني له ۲۳ سره سمون خوري د جمعې په مبارکه ورځ د دیشو ولسوالی د جوکې په سیمه کې په داسې حال کې چې د ګنو ونو منځ کې په جهادي ترتیب بوخت و امریکایانو وربانديې چاپه واچوله او وروسته یې د نومورې په ملګرو سخت بمبار وکړ، چې په ترڅ کې یې خپله مولوي محمود سیف الله صاحب له ۹ تنو ملګرو سره په شهادت ورسید چې د شهیدانو په جمله کې ورسره تکړه مجاهد ملګري مولوي محی الدین صاحب هم و.

شهید مولوي محمود رحمه الله او نور شهیدان ملګري یې د دیشو مربوط دبهرامچې د شهیدانو په مشهوره هدیره کې خاورو ته وسپارل شول. رحمهم الله تعالی

د شهید مولوي محمود رحمه الله د ژوند ځو خاطرې

شهید مولوي محمود صاحب د ګنو امتیازي خویونو څښتن و، نومورې ته الله تعالی په ښه علم، جهادي عزم، جرأت او شجاعت سربیره تقوی، دیانت او اخلاص هم ورنصیب کړی و، د نومورې ځینې ملګري د ده د شخصیت په اړه داسې وایي:

مولوي عبدالعزیز انصاري صاحب وایي: مولوي صاحب له بیت المال سره خورا زیات احتیاط کاوو، او د بیت المال پیسې یې له عامه جهادي ضرورت پرته کله هم په شخصي ډول او بلا ضرورته نه خرچ کولې، کله چې په کندهار کې یې وظیفه وه نو زه یې د مالي چارو مسؤل ټاکلی وم، نو چې به له نورو ملګرو سره بازار ته د سودا خیستلو لپاره لاړو، ملګرو به د فاکهې او مشروباتو د اخیستلو غوښتنه درلوده، مال له مولوي صاحب څخه پوښتنه وکړه چې آیا د بیت المال له پیسو ملګرو دا شیان واخلم؟ مولوي صاحب راته وویل څرنګه چې دا مجاهدین دي او پیسې هم ورسره نشته نو که فتوی رانه غواړي اجازه درکوم چې ورته اخله یې مګر زما خپله تقوی داده چې په داسې ځای کې که څه هم لږ وي باید د بیت المال پیسې مصرف نه شي.

حافظ غلام الله صاحب وایي: کله چې مولوي محمود صاحب په میوند ولسوالی کې د ولسوال په حیث دنده درلوده، نو یوه ورځ په دې سیمه کې یوه ملګري قاري ایوب صاحب چې دهمدې علاقې اوسیدونکی و میلمستیا وکړه، مولوي صاحب نورو مسافرو مجاهدینو ته چې جهادي خط ته روان وو وویل چې میلمستیا ته تاسو ورشئ، ځکه تاسو سبا یا بله ورځ روان یاست، زه ددې سیمې حاکم یم او میلمتستیا کوونکی هم ددې سیمې سړی دی، نو مناسبه نه بولم چې په میلمستیا کې یې شرکت وکړم، تر څو که سبا یې له چا سره دعوه وي نو ماته دواړه جانبه علی السویه وي او د چا تر منت لاندې به نه یم.

حاجي ضرار وایي: د مولوي صاحب لوی خصوصیت دده اخلاص او له مجاهد سره محبت و، ده به له هر مجاهد او هر چا سره داسې وضعیت کاوو چې هغه به فکر کاوو چې تر ټولو له ماسره ډیر محبت لري، ډیر زیات عابد و، د بیت المال د پیسو له غلط استعمال څخه یې ډیر لرې ځان ساته، د دنیا او متاع هیڅ شوق یې نه درلود، بله دا چې هر چا لیدلی و نو ډیر به ورته محبوب و چې همدا عامه محبوبیت یې د قبولیت لویه نښه وه.

مولوي خالد صاحب وایي: شهید مولوي محمود صاحب لکه څنګه چې په یوه وتلي او منلي مجاهد سره مشهور و، همداسې یې له علم، علماء کرامو او مدارسو سره هم همیشنی رابطه وه، نومورې ډیر خلک علم او د مدارسو تأسیس ته تشویق کړل، د علماء کرامو او طالبانو یې ډیر احترام کاوو.

په شرعي امورو او د طرفینو تر منځ په ثالثیت کې ډیر محتاط او شریعت ته پابند و، یوه ورځ د سیمې یو عالم ورسره مخامخ شو، مولوي محمود صاحب یې ډیر احترام وکړ، وروسته دې عالم له جیب څخه یو موټی شنې را وایستې او مولوي صاحب ته یې ورکړې، مولوي صاحب یوه دانه خولې ته واچوله، خو دغه عالم سم دستي د خپلې دعوا بیان او سپارش شروع کړ، مولوي صاحب یې خبرې ته غوږ نیولی و خو چې کله دغه عارض رخصت شو، مولوي صاحب هغه د شنې یوه دانه چې خولې ته اچولې وه، په خوله کې یې ساتلې وه او بیرته یې وغورځوله، پاته شنې یې عامو مجاهدینو ته ورکړې او ویې ویل: ددې سړي څه عرض شته، نو زه چې مسؤل یم احیتاط دا دی چې دده له لاسه کوم شی ونه خورم، تاسو چې عام مجاهدین یاست او له داسې قضایاو سره مو کار نشته تاسو ته یې خوړل باک نلري.

قاري هارون الرشید وایي: هغه وخت زه د بهرامچې د تیمورچاي په سیمه کې په بدرالعلوم مدرسه کې د شعبه حفظ استاد وم، مولوي صاحب چې په جهادي چارو بوخت و، کله به په خفیه شکل مدرسې ته راتلو او دلته دلنډ وخت لپاره اوسیده، ما چې مولوي صاحب له نږدې لیدلی و، د ډیر معتدل مزاج، لوړو اخلاقو، تواضع او پرنفس د حاکمیت څښتن و. مثلا زه به دده وړې خاطرې ذکر کړم چې ما په خپله لیدلي او ددوی د شخصیت کمال ترې معلومیږي.

موږ په مدرسه کې اوسیدلو نو دلته په یوه اطاق کې د بستر و له جملې دیوه بالښت پوښ یو څه خیرن و، بله ورځ مولوي صاحب همدې اطاق ته ورغلی و، نو یو ځل ګورم چې مولوي صاحب د همدې بالښت پوښ ایستلی، او بیا د اوبو ځای ته تللی دی، پوښ یې په صابون پاک مینځلی او په لاسونو یې یوه بله ورځ چې مولوي صاحب همدلته د میلمه په حیث اوسیدو، په مدرسه کې مو پسه حلال کړی و، موږ د پسه ینه کباب کړه او مولوي محمود صاحب ته مو وروړه، کله مو چې مو وروړه ده پوښتنه وکړه چې آیا دا یوازې زما لپاره ده که نورو طالبانو او استادانو ته هم دا خوراک رسیدلی؟ موږ ورته وویل چې دا مو یوازې تاسو لپاره تیار کړی.

مولوي صاحب وویل: دا طالبانو او نورو استادانو ته وروړه هغوی هم زما غوندې انسانان دي او دغسې زړه او خواهشات لري، زه پر دوی هیڅ برتري نلرم چې په دې خوراک سره خاص شم، ماته یوازې هغه خوراک راوړئ چې ټول طالبان او ملګري یې خوري.

له دې څخه معلومه شوه چې نوموړي په خپل ځان او نفس تر ډیره حده کنټرول درلود او طبعي خواهشات یې تر پښو لاندې کولای شوای چې همدایې دبرېا او د شخصیت دکمال لوی رمز و.

د مولوي محمود سیف الله رحمه الله له شهادت وروسته د نوموړي نږدې ملګري مولوي عبدالرشید صاحب دده په ځای وټاکل شو تر څو جهادي مسؤلیتونه ترسره کړي.

۸/۵/۲۰۱۶ میلادي

طالبان له تېرو پنځلسو کالو راهیسې پر دې ټینګار کوي، چې تر څو بهرني پوځیان په افغانستان کې موجود وي، دوی به یې پر خلاف جګړه کوي او که د سولې خبره وي، نو لومړی باید د جګړې له بهرني اړخ «امریکا» سره خبره وشي.

د تېرو پنځلسو کالو په ترڅ کې د طالب مشرانو او ګڼو قوماندانو دوژل کیدو او بندي کېدو د دوی په ستراتیژي کې بدلون نه دی راوستی او راتلونکو وختونو کې هم داسې نه بریښي، چې طالبان دې خپل مسیر بدل کړي.

دامیر المؤمنین شهادت

او د امریکا نامعقول دریځ

حسن ژوی

امیر المؤمنین ملا اختر محمدمنصور رحمه الله تعالی درواني میاشتي شعبان په ۱۴مي نېټې چې دجوزا درومبی نېټې سره یې سمون خوړ دکندهار ولایت ریکستان اودبلوچستان نوشکي ته څېرمه په یوې سرحدي سیمې کې دامریکایي طاغوت دبې پیلوټه الوتکې په بریدکې دشهادت لوړ مقام ته ورسېد انا لله وانا الیه راجعون.

هرانسان چې نړۍ ته سترګې خلاصوي ، ورنه دابدلپاره سترګې پټوي اوپکې څومره ژوند تېروي ددې هرڅه پربکړه یوائې الله تعالی کوي اوعلم یې هم یوائې الله تعالی ته دی ؛ داهرڅه له وراندې لیکل شویدي اوپکې هیڅ مخکیوالی او وروسته والی نه رائي؛ همدې ته تقدیر ویل کېږي ؛ پردې دهرمسلمان کلک باور اویقین لرل شرعاًضروري دی ؛ زمونږ دین دهرمسلمان نه ددې یقین لرلوغوښتونکی دی اودایقین دایمان داسې برخه ده چې له دې پرته ایمان داعتبارونږ نه ګڼل کېږي .

ستر اوکوچنی ؛ځوان اوزوړ؛ بډای اوغریب نېک اوبد یو هم دالله تعالی ددې قانون نه مستثنی ندی اوټول دهمدې خدایې قانون سره سم نړۍ ته راغلي اوتر تللي دي .

امیر المؤمنین ملا اختر محمدمنصور رحمه الله تعالی هم یو انسان و او دهمدې خدایې قانون له مخې په مقرر وخت او ځای کې یې نړۍ ته سترګې وغړولې اوپه مقرروخت اوځای کې یې روح له بدن نه جدا اودابدیت پرلوړیې پرواز وکړ .

دالله تعالی دا پربکړه موږ ته په سر سترګو قبوله ده او درب العالمین پر قضارضا خپل شرعي مسئولیت ګڼو خو چې په فراق یې دهېواد او نړۍ دټولو ژمنو او باشعوره مسلمانانو اوخصوصاًدنړۍ اوافغانستان مجاهدینو سره یوځای سخت غمجن اودردمن یو او په الفاظو اواوښکو دزړونوددې غم اودرد اظهارکوو دامو هغه طبعی حق دی چې خدای راکړیدی نو ته یوائې دا چې دغم اودرد ددې

اظهارنه موخپل رب نه منع کوي بلکي دا دانسانانو تر منځ
د خپلمنځی ترحم او همدردی نښه ګڼي نو ورته مقبول
دی اورحم هم په همداسې رحم کونکو کوي .
اسلامي نړۍ چې نن په مختلفولحاظونو د ویش او انتشار
ښکاراو دواحد قیادت نه محرومه ده او په مختلفومهمو
برخوکې بې کورني جنګونه روان دي دیهر نویرغلونونه
ددفاع توان یې له لاسه ورکړیدی
اودضعف په همدې حالت کې یې پر ضد دانساني تاریخ
هغه بې ساری ستر صلیبي اتحاد هم رامنځته شوی ؛ چې
مشري یې دامریکا په څېر زببناکګر، خونخوار وحشي
زبرځواک کوي ؛ دې اتحاد چې داسلامي نړۍ پر ضد
جنګ اعلان او دستوني نه دتولې اسلامي نړۍ دتېرولوپه
موخه داجنګ عملاً پرافغانستان دیرغل کولونه پیل نو په
تولې اسلامي نړۍ کې دېره ستره ناهیلي خپره وه ؛ هیڅا
داګومان نه کولوچې ګینې ددې ستر مادي طاقت مقابلې
ته به څوک راووځي اویابه ګیني داسلامي نړۍ کوم ګوډ
دصلیبیانو دناپاکوقدمونونه خوندي پاتې شي.
دناهیلی په همدې ستر عالم کې چې دعادي
جنګي وسایلوسره طالبان ددې ستر اتحادمقابلې ته
راووتل نو نه یواځې داچې کم شمېر طالبانو ددېرو عادي
اوکمزورووسایلوپرمټ ددې ستر زبرځواک پر ضد
تراوږدې مودې پورې جنګ جاري وساتلای شو بلکې
دتمې خلاف یې دې لوی دښمن ته داسې ملاماتونکي
ګوزارونه ورکړل چې دښمن پخپله دشکست
اعترافونوته اړشوچې پدې سره دنړۍ دتولومسلمانانو
دامېد ستر ګي یواځې دطالبانوپرلورشوې اویقین ته یې
پربوته چې دمسلمانانو ددې ستر دښمن شکست
اودمسلمان ملت نجات دطالب دوجود اوداسلامي امارت
دیقا سره تړلی دی .
همدا لامل دی چې دنړۍ ژمن مسلمانان اسلامي امارت
ته دېر دقدر په نظر ګوري ؛ په زړونوکې یې داسلامي
امارت دزعیم دېرلورمقام دی اودطالبانوسره یې کچه مینه
کوي ؛ په بریاوو اوپرمختګونو یې دېر خوشالېږي اوپه
درد یې سخت دردمن وي نو ځکه وایوچې دامیر المؤمنین
ملا اختر محمدمنصور رحمه الله پر شهادت نه یواځې
دافغانستان مجاهد ولس بلکې توله اسلامي نړۍ غمجنه
ده اوتوله پرې ژاړي .
دهغه رحمه الله تعالی دفراق داغم او درد طبعي دی خو
دشهادت په کوم مرګ چې هغه ومړ هغه مرګ دېر دلوړې
مرتبې والامرګ دی ؛ داهغه مرګ دی چې رسول الله
صلی الله علیه وسلم به یې سخته تمنا کوله اوفرمایل به یې
چې : ځه داخوښه کنم چې دالله تعالی په لارکې بیا بیا
شهیداوبیا بیا ژوندی شم .
نوځکه ددې لوېې مرتبې حصول دهر مسلمان خواهش
وي اوهر مسلمان په خپلې دعا کې دالله تعالی نه دا
ستر مقام غواړي ؛مسلمان دبل مسلمان لپاره هم شهادت
غواړي او دادمسلمانانوپه خپل منځي صالحو دعاګانوکې
دېره مهمه دعا ګڼل کېږي .
داسمه ده چې داسلام اومسلمانانو دترتولوستر دښمن په
لاس چې دتولې اسلامي نړۍ دا دومره ستر شخصیت
ووژل شو دې تول مسلمانان په طبعي لحاظ خفه کړیدي
خوداهم دتولومسلمانانو عقیده ده چې دځومره ستر
کافراوداسلام اومسلمانانو دلوی دښمن په لاس دمسلمان
شهادت رامنځته کېږي په هماغه اندازه دمسلمان شهادت
هم لوی ګڼل کېږي .
دحقې لارې هر مجاهد ددین ،اسلامي خاورو اومسلمان
ملت نه ددفاع اوداسلام دسر لوړې لپاره دخدای په لارکې
جنګېږي اوهمدا یې اصل هدف وي خوپدې لارکې
شهادت یې هم ستره هیله وي ؛ تل دشهادت تګې وي
اوددې تندې دماتولو لپاره خوځوځله دخپل تندي

ماتولوته تیار وي .

منصور صیب هم دحقي لاري یوداسي مجاهد وچي تبري څه دپاسه دوه لسیزې یاني دخپل عمر کابونیمه برخه یې یاد هدف اوهیلې ته درسېدو په هیله دخدای په لارکې په جهاد کې تبرې شوې تردې چې الله تعالی دده په لاس دلویو جهادي اهدافو تحقق هم یقیني کړ اوهم یې هیله پوره شوه اوداسې پوره شوه څرنګه چې ده غوښتله .

پرامیر المؤمنین ملا اختر محمدمنصور صیب چې دده سلف دستر فراست څښتن ؛ دهبواد او ملت لوی غمخور ، رښتیني مدبر، دهمت غر او د جرأت ، حریت او د قربانی سمبول عالیقدر امیر المؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله تعالی اعتماد کړی و اوپه خپلو تولو ملګرو کې یې دنیابت لپاره دده انتخاب وکړ اوبیا چې دامارت تولو مهمو مشرانو دده په مشرۍ اتفاق وکړ دا دده لپاره دلته په دنیا کې لویه مرتبه اودخدمت ستره موکه وه.

نوعام ، مسلمانان ،مجاهدین اودامارت مشران چې په دنیا کې دده په دومره لوی مقام خوښ وو په آخرت کې هم ورته دلوی مقام غوښتونکي ووچې دنړۍ دترټولووحشي ، خونخوارو اوظالمو کافرو امریکایانو په لاس دده دشهادت له لارې الله تعالی ده ته دامقام ورکړ او ارمانونه یې ورپوره کړل .

ترکومه چې اسلامي امارت ته له دې لارې دلوی تاوان رسولو اودامریکا دفتحې یاشومواهدافوته درسېدلو خبره ده نودا حقیقت ټولې نړۍ ته له ډېر وړاندې نه روښانه شویدی چې دطالب مشرانو شهادتونو هیڅکله هم د اشغالګرو پر ضدروانې مبارزې کې هیڅ نقصان ، کمی اوتوقف ندی راوستی ځکه چې داجهاد اوپدې جهاد کې دالویې قربانۍ داشخاصو لپاره ندي چې دشخص په تلو یا راتلو دې روان شي یا ودرېږي ؛ دامبارک عمل چې دکوم ذات لپاره کېږي هغه ازلاً وابداً ژوندی ذات دی اوترڅوچې دادنیا ودانه وي دهغه لپاره به داعمل جاري وي .

دشمېر په لحاظ کمواود وسایلوپه لحاظ کمزورو طالبانوچې دانساني تاریخ دترټولوستر جنګي اتحاد په مقابل کې هم داوړدې مودې لپاره جنګ جاري وساتلو اوهم یې دالوی دښمن دشکست تر سرحده راورسولو ددوئ ټولوداعقیده ده چې دا هرڅه یوائې دهغه ذات په فضل وشول دچالپاره چې داعمل جاري دی خوداسبابو دنیا ته چې نظر وکړونودنړۍ ټول پوهان ،خبرونکي ؛ سیاستوال اودنظر څښتنان دوستان اودښمنان وایې چې دطالبانودکامیابۍ یوائنی سبب دطالبانودصف وحدت اوپه واحدقیادت باندې راجمع کېدل دي چې لله الحمد دا وحدت اوپه واحد قیادت باندې جمع چې څنګه وه هماغسې اوس هم ده نوځکه وایوچې دجهاد روان عمل ته هیڅ تاوان ندی رسېدلی .

ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی چې داسلامي امارت زعیم او دطالبانوداسلامي تحریک مؤسس و وفات یې ستره حادثه وه ؛ دښمنانو خو به دخپلو رسنیو له لارې همدا تبلیغات کول چې طالبان به دیوغورځنګ په صفت نور باقي پاتې نه شي ؛ دوئ به توته توته شي ؛اکثریت به یې وسلې په ځمکه کېږدي اونور به دیهرنو ځواکونو پر ضد دجنګ روان ساتلوتوان له لاسه ورکړي .

کمزوري اوضعیف الایمان مسلمانان ددوئ ددې تبلیغاتونه اغېزمن وو اوهمداخبرې به یې تکرارولې ؛ عامومخلصومسلمانانوکې ناهیلي خپره وه اومجاهدینوکې دافتراق راپیداکېدو تشویش محسوسېدلو خوآفرین داسلامي امارت پر قیادت چې دوخت حساسیت یې درک کړ ؛ دصف دوحدت ساتلو اوپر یوامیر دټولوافغانانو اوخصوصاً مجاهدینو

دراټولولولپاره يې پرځان شپه او ورځ يوه کړه ؛ الله تعالی يې مرسته وکړه ؛ کوښښونويې رنګ راوړ دصف وحدت پاتې شواو ټول مسلمانان په هماغه يوامير رټول شول کوم چې امير المؤمنين ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله تعالی خپل ځای ناستی جوړ کړی و .

رښتيا داده چې عالی قدرامير المؤمنين ملا محمد عمدعمر مجاهد رحمه الله ته الله تعالی ډېر لوی فراست ورکړی و ؛ په خپلوملګروکې يې چې دچا انتخاب کړی اوپرې يې زيات اعتماد کړی وهغه هماغسې وخوت څرنګه چې ترې امېد کېدلو ؛ هغه خپل مسئوليت په ډېر غوره او وياړمن ډول ترسره اودامارت حق يې اداکړ ؛ دامارت دچارواودجهادي امورودلازيات پرمختګ لپاره يې ډېرې هڅې اوښه ګڼ جدي اقدامات وکړل ؛ دعالي اهدافواوملي ګټودتحقق په لارکې يې هيڅ ستړتيا ونه منله ؛ دصف واحد ساتلو ته يې ډېره توجو وکړه ؛ هغه په رښتيا چې داشدآء علی الکفار رحمآء بينهم نمونه وه ؛ په بيعت کې تاخير کونکي خوپرېږده کوموتنانوچې ښکاره مخالفت وښود ،دهغوئ پرخلاف يې ترآخره کوم سخت توری هم له خولې ونه ويست اقدام خولری خبره وه ؛ خوداشغالګرو په مقابل کې دپيل نه دمرګ ترساعته په کلک او وياړمن دريځ پاتې شو ؛ نه يې داشغالګروغوښتنې ومنلې ؛ نه يې زور ته سرټيټ کړ نه يې ګواښونو اوفشارونوته تسليم شو ؛ نه يې دچا پروسې اوپشنهادونه ومنل ؛ نه دمکاروخلکودتوطيو اودسيسوښکارشو؛ نه يې دچا فشارونوعزم متزلزل کړ اونه يې دچاپه وينا خپل مسير پرېښود .

دهغه داسلامي امارت دزعامت موده لنډه وه خوپه لنډې مودې کې يې دمتين عزم ، کلک ايمان اوسرلوړۍ داسې کارنامې ترسره اوتاريخ ته پرېښودې چې تل به پرې ټول ژمن مسلمانان اوخصوصاً مجاهدين وياړي اواتلولئ به يې تاريخ تل يادوي .

امير المؤمنين رحمه الله تعالی له نړۍ سترګې پټې کړې خو په خپل عمر يې کومه داسې کوچنۍ خبره يا حرکت هم ونکړ چې د افغانانو پرتاريخ تورټکی شي بلکې په لږوخت کې يې چې څه وکړل هره کړنه يې تاريخ جوړونکې وه چې دا دټولو مسلمانانو لپاره دډېرې خوښۍ خبره ده .

د امير المؤمنين چې کوم مقام او منزالت و شايد ګڼ متعصبين به ترې لاهم انکار کوي خو تاريخ به دالوړمقام اولويه مرتبه هيڅکله هم پټه نکړي او زمانې پس به ښه په روښانوټکو دده رحمه الله دلويوالي اولوړوالي خبره ترقيامته راتلونکو نسلونوته ثبت کړي.

دامير المؤمنين دشهادت نه پس دامريکا تورپوستي ولسمشربارک اوباما دغرورنه په ډک فاتحانه انداز دهغه دقتل اعتراف و کړ اوويې ويل چې ،،که طالبانو دملا اخترمنصور په څېر دسولې اومذاکراتوپروسه رد کړه انجام به يې دخپل همدې مشرپه څېر وي ؛ په راتلونکي کې به دامريکا دمفاداتودساتنې په موخه داړتيا په صورت کې دطالبانودمشر په شمول نور قيادت هم په نښه کړو ،، بيا يې جاپان ته دسفرپرمهال وويل ،، طالبان دې پدې پوه شي چې دوئ به بيا پّه افغانستان کې واک ته ونه رسېږي اونه به يې حکومت راشي ؛ افغانستان کې جمهوري دولت شتون لري ،موږهمدغه دولت تقويه کوو ،،

داوباماخبرې څومره ددېپلوماسۍ ضد ؛ دوحشت اوغرورنه ډکې ؛ دحقيقت نه لرې ؛ نامعقولې اوپرتضاداتو ولاړې دي ؟! خوڅوک شته چې دده پرضد دحق آواز پورته او دده دخبرونامعقوليت اوناقانونيت په ګوته کړي ؟

اوباما دکابل اوسنۍ لاسپوڅې اداره جمهوري اداره ياپه بل عبارت دولس له لورې منتخبه اودولس دخوښې اداره بولي داڅومره سپين دروغ دي ؟! که ولس يواځې په

چوکیوباندې دناستولاسپوځو ،رشوت خورو ،لوټمارانو اوملي خائنانو نه عبارت وي نویقیناً اوسنۍ اداره ددوئ دخوښې اداره ده او دوئ یې بقاغواړي خوکه ولس دافغانستان دټولو اوسېدونکونه عبارت وي نوییا هر منصف داپوښتنه کوي چې که دا جمهوري یا دولس دخوښې اداره وي نو ولې دافغانستان د شمال ،جنوب ،شرق اوغرب په هرې سیمې کې افغانان هغوطالبانوته په خپلوکورونوکې ځای ورکوي کوم چې داشغالګرو اوداشغالګروپه لاس درامنځته شوي اداري پرضدجنګېږي؟

اوباما داختر محمدمنصور دشهیدولو لپاره وجه دابیانوي چې هغه دمذاکراتو پروسه کې خنډونه جوړول .

په ټولیزه توګه ټولنۍ اوپه ځانګړي ډول دملګرملتونوپه نوم نړیواله اداره باید پدې خبرې غور وکړي چې آیاداوباما په خبرې کې ګینې یوفیصد قانونیتوب یامعقولیت شته ؟آیاپه نړۍ کې زورورته داحق هم ورکړل شویدی چې که مقابل لوری ورسره مذاکرات نه کوي یاورته دمذاکراتولپاره شرطونه وړاندې کوي نوزورور به یې وژني ؟

د دیپلوماسۍ خبرې څه شوې ؟ داد انسانانو نړۍ ده که دځناورو ځنګل دی ؟

داخبره دېره داهمیت ور ده چې طالبانو خو ایله همدومره کړې چې دخپلې خاورې دآزادۍ په روان جنګ کې یې امریکایې اشغالګرعسکر وژلې دي چې دا د دوئ مشروع حق اودنړۍ دټولوقوانینوسره برابره خبره ده ؛ دادنړۍ په ټولوقوانینوکې ثبت ده چې داشغال پرضد دیوملت قیام اوجنګ کول دهغه ملت قانوني حق دی .

نوطالبانودامریکا پرضدهیڅ ناقانونه عمل ندی ترسره کړی ؛ نه یې پر امریکایرغل کړی ؛ نه یې دامریکا یوه لوبشت خاوره قبضه کړی ؛ نه یې ورباندې کلستربمونه غورځولي ؛ نه یې پر امریکا کیمیاوي مواد استعمال کړی ؛ نه یې په امریکا کې کوم ښوونځی ، روغتون اوکلیسا بمبارکړي ، نه یې دکوم امریکایې کور وران کړی او نه یې په توره شپه کې په کور وراوښتی ؛ نه یې دانجیل په نوم دهغه کتاب اودعیسی علیه السلام په نوم دهغه پیغمبرسپکاوی کړی دکوم چې امریکایان ځانونه متبعین بولي .

بس طالبانوهمدا کړیدي چې داشغالګرهیواد سره مذاکرات یې دقابضوفوځونوپه وتلومشروط کړیدي .

موږ دټولې نړۍ اودملګرملتونو داړي نه داپوښتنه کوو چې آیادطالبانو له لورې دیوشرط وړاندې کېدل دومره لوی جرم دی چې دطالبانوقائد دې پرې ووژل شي ؟

امریکایې فوځ چې پرافغانستان یرغل کړی ؛ داهیواد یې قبضه کړیدی ؛ وربانديې کلستربمونه غورځولي ؛ ددې هیواد په مختلفوسیمو کې یې کیمیاوي مواد استعمال کړی ؛ جوماتونه ، مدرسې ، ښوونځی ، روغتونونه ،جنازې ، ودونه ، آباد کلي اوښارونه یې بمبارکړي ، په تورو شپو کې په کورونو وراوښتي دي ؛ دمسلمانانودمقدس کتاب قرآنکریم یې حرمتي یې کړیده نو اوباما او دامریکا نور مشران چې دهمدې فوځ مشري کوي اودهمدې اعمالو دترسره کولولپاره دا فوځونه را استوي آیا نړیواله ټولنه اودملګرملتونو اداره به ددې جرمونو نه پس بش ، اوباما او دامریکا نور مشران دقتل ور وبولي اوآیا طالبان یې که په وژلوبریالي شي او ویې وژني دطالبانو داکړنه به تائید کړي ؟

نه هیڅکله هم نه ! ځکه چې امریکا خو امریکا ده ؛ پدې مادي نړۍ کې هغه زورور ده ، بدماشه اودملګرملتونوپه نوم دغلامي اداري یواځنۍ باداره ده اوطالبان دمظلوم مسلمان ملت برخه ده نودطالبانوهره خبره اوعمل ردېږي اودامریکا هرڅه دقانون سره برابر

اودمنلو وړ ګټل کېږي .

داپوښتنه هم دېره اړینه ده چې په نړۍ کې خو نور هم دېر داسې څوک شته چې دامریکا سره په دېرو امورو کې شدید مخالفت ښکاره کوي اوامریکا ته ګواښونه هم کوي آیا امریکا دومره نره ده چې دهغوئ دوژلو حق هم ځان ته ورکړي ؟

داوکړاین په شخړه کې چې امریکاپه روسانوسخت تنقیدونه کول ؛ په روسانو یې تورلګولوچې په اوکراین یې حمله کړیده اوداداسې ده لکه په ټول لویدیځ باندې حمله نوآیا امریکا دپوتین دوژلوحق ځان ته ورکولی شي؟

امریکا دېرې هڅې وکړې چې شمالي کوریا داتومي وسلوجوړولونه منع کړي ؛ شمالي کوریا ته دترغیب اوترهیب ، غولولو او وېرولوهره حربه یې په کارواچوله خوشمالي کوریا یې هیڅ پروا ونه ساتله ، دامریکا هیڅ فشار یې ونه منلو اوښه په جرأت یې خپل اتومي پروګرام مخ په وړاندې بوتلو ؛ ښه په نره یودبل پسې اتومي ازموینې کوي ؛ اوس دشمالي کوریا په اړه دا اوازې هم شروع دي چې هایدروجن بم جوړوي ؛ امریکا ته یې ځوځلې ګواښونه کړیدي چې جاپان اوجنوبي کوریا کې شته اډې به یې نیست ونابود کړي نودشمالي کوریا په کوم مشر دډرون حملې کولوحق ځان ته امریکا ورکولی شي ؟ امریکایان خو دومره بزدلان دي چې دشمالي کوریا په نوم یادولویې لېنګې رېږي .

همدا رازدچین ، وینزویلا کیوبا اوځینو نورو هېوادونوسره هم امریکا ستونزې لري اویو یې هم خبره نه مني خو دیو هېواد دمشر دوژلواو ورباندې دحملې کولو تصور هم امریکا نه شي کولای ځکه چې امریکا یې حده بزدل دښمن دی دهغه چانه تل په سختې وېرې کې وي دچاسره چې مادي طاقت وي .

نوکه دامریکاسره دطالبانو درای مخالفت دومره لوی جرم نه وي چې دطالبانوقائد دې پرې ووژل شي نوباید اوباما چې دقتل اعتراف یې کړیدی نړیوالومحاکمو کې دمحاکمې لپاره رابښکل شي او که داسې نشي کېدای نونړیواله ټولنه اوملګري ملتونه باید پدې اعتراف وکړي چې پرنړۍ دقانون نه بلکې دزور اوبدماشي حاکمیت دی .

دامریکا اوسني ستر جنایت امریکا منافقت نړۍ ته ښکاره اوداخبره ښه روښانه کړه چې امریکا رښتیا هم خپلې موخې اوشوم اهداف په جګړې کې وینې ؛ هیڅکله نه غواړي چې په افغانستان کې جګړه ودرېږي اودافغانستان ستونزه دخبرو اترولې لارې حل شي ؛ امریکا یو فیصد هم په حقیقي معنوکې دطالبانوسره مذاکراتوته ژمنه نده .

دطالبانوسره مذاکرات اودوحشت نه په ډک اوناڅوانمردانه ډول دطالبانودزعیم وژل ؟!

دامریکا د دماغونه لاهم دحماقت نه ډک غرورندی وتی اولاهم دخپلې غلیې خوبونه وینې ؛ دکوموطالبانوپه لاس چې په پنځلس کلن اوږدجنګ کې ټول صلیبي اتحادپه ګونډوشودهماغوطالبانونه غواړي چې وسله دې په ځمکه کېږدي اودکابل لاسپوڅې اداره دې ومني.

خوعجیبه داده چې خپلې دحماقت نه ډکې همدې غوښتنې ته نوم دمذاکراتو ورکوي .

شاید ګومان به کوي چې پدې توګه به ځان نړۍ ته سوله پالی اوطالبان دسولې مخالفین وښایې چې دایوه ناکامه هڅه ده ؛ بالفعل قابض ، اشغالګر اودسونوزروېې ګناه انسانانوقاتل به څوک سوله پالی وګڼي ؟

دامریکا مکاره شخړه طالبانو پېژندلی ده او دمنافقت نه یې ښه خبر دي نوځکه یې مذاکرات ددوئ په وتلو مشروطول او اوس چې پکې هیڅ ګټه نه وینې نوببخې یې

ردکړل .

اوباما داګواښ هم کړی چې طالبانو دملا اختر محمدمنصور په ځبر دسولې اومذاکراتوپروسه رد کړه انجام به يې دخپل همدې مشرپه ځبر وي ،،

هر دعقل ځښتن به يې له فکر کولودا وايې چې داوباما داخبره دحماقت نه ډکه طفلانه خبره اودخپل ځان اوخپل ولس دغولولويوه ناکامه هڅه ده .

اوباما ژوندو هغو انسانانوته غږبدلوچې دټولې صليبي ټلوالې په مقابل کې يې دطالبانو تېره ۱۵کلنه مقابله مخې ته ده .

